Aug Sept. 64

علمي اجتماعي او ادبي

وږی (۱۳۴۳) لمرنی کال د (۱۹۶۴) عیسوی کال اګست او ستمبر

شمیر	مضمون	لیکوال	مخ
۱	د رامپور په رضا کتابخانې	پوهاند رشتین	۱
۲	د پښتونستان مشاعره		۹
۳	د پښتو شعر او ادب ...	واسعي	۴۹
۴	د جبو خلك	دولت محمد لودین	۵۴

امتیاز د پښتو ټولنې

مشر پوهاند رشتین

مسئول مدیر محمد صدیق روهي

دهند دسفرله یاددا شتو څخه

درامپور په رضا کتابخانه کښی

دپښتو قملی نسخې

۵ ـ اختیارات بدیعی :

دایو نااشنااو نوی کتاب دی چه تراوسه پورې مونږ ته معلوم نه ؤ او دپښتو ادب په تاریخ کښی یی هم نوم نه دی راغلی.

داکتاب یو طبی کتاب دی چه مولانا عبد الحلیم(۱) دافضل خان خټک په وینادعلی بن حسین له پارسی اختیارات بدیعی څخه په پښتو ترجمه کړی دی لکه چه دکتاب په سریزه کښی وایی :

«خانصاحب چه صاحب دبخت دی، بخشنده ددولت دتخت دی، عقل کل لری ـ علم کامل لری رانجه دستر ګودنیایی دی ، توتیاد کیسود دانایی. دی دانادی دانادل دی عالم دی عامل دی، دافع دظلم دی، رافع دعدل دی .

چه عقل کل لری، علم کامل لری
دولت له بخت سره شامل لری
خان دخانانو میرد میرانو
محمدافضل دی خدای دې تل لری

(۱) دعبدالحلیم دنامه پته مونږ ته نه ده معلومه، چه څوک ؤ، یوازې یوسړی مونږ ته معلوم دی چه دعبدالله زوی اودا خون درویزه نمسی دی .

دعاګوی صمیم عبد الحلیم ته چه زین پوش یی د بندګی په دوش دی او حلقه یې دشا ګردی په ګوش وفرمایل چه اختیارات بدیعی چه علی بن حسین چه مشهور په زین العطار دی په نامه د بدیع الجمال.....

که په پښتو ژبه په اسان عبارت ترجمه شی اکثر اشیا چه په عالم کښی مشهور او معمول دی په نفع ضرر یی خلق واقف نه دی که په خپله ژبه په خپل لغت شی له مضره به حذر وکاله نافع به منفعت و اخلی»

دا کتاب په (۱۱۳۰ھ) کښی ترجمه شوی دی (سن دهجر زر سل دیرش) خودرضا د کتابخانی دغه نسخه په (۱۱۹۱ھ) کښی دفیض علی دقاسم بیک دزوی په قلم په شاهجهان اباد کښی دکاظم خان شیداد پاره لیکل شوې ده.

دغه نسخه په نستعلیق خط ده خطیې رو ښانه او ښایسته دی. لیک دودیی دختکو دکورنی په سبک پورې اړه لری او (پټن) په دې ډول (ز ط ن) لیکی. یعنی دد روند تورې دپاره دکړی پرځای لاندې همزه ډوله نښه ورکوی.

دا کتاب ټول (۸۰۴) مخه دی یو لوی کتاب دی او ډیره خواری پکښی ویستل شوې ده. دکتاب په اخر کښی افضل خان داسی معرفی کوی:

خان راغلی کان په کان دی
خاص نیکه یې خو شحال خان دی
اختیارات که مشکل ګران دی
هرمشکل خان ته اسان دی

دا کتاب پردوو مقالو شامل دی اوله مقاله د مفردا تو اودار وپه بیان کښی ده او بله د مرکبو دارو په باره کښی ده. یعنی په دې کتاب کښی دد واګانو خاصیتونه په لنډو جملو کښی بیان شوی دی او دهرې دوا دپاره یې پښتو نوم را وړی دی.

په پښتو نثر کې کوم بل طبي کتاب تر اوسه پورې مونږ ته نه دی معلوم له دې کبله وایو چه دغه کتاب د پښتو د نثر په کتابونو کښې یو غوره او سودمن اثر ګڼل کیږی .

د نثر نمونه :

-۱-

باد نجان پښتانه یې باتینګن بولی بهتر پکښې هغه وی چه خوږ او تازه وی طبیعت یې ګرم او خشك دی ، په دویم درجه چه په غوړو کښې ورته کا ، نس خوږ کا او که په سماق چه پښتانه یې تتری بولی یا په سرکه کښې پاخه کا امساك راوړی او درد دمعده او د خاصره یعنی مقعد ترې پاڅی او سر او ستر ګو ته زیان رسوی او بواسیر پیدا کوی او توره وینه حاصلوی او سودا پیدا کوی .

او سده یعنی غوټه په نس کښې راوړی او رنګ تور وی شیخ الرئیس وایی :

باسی بد دی ، تازه نقصان نه لری له باسی نه جذام یعنی پشك او درد سر او بی خوابی پاڅی .

-۲-

بابونج - په پارسی بابونه بولی په هندی سونهل او ایرم سار بولی بهتر پکښې هغه دی چه ګل یی زیړوی ، کټه وی طبیعت یی ګرم اوخشك وی په اول درجه منفعت یې دا رنګه دی چه مفتح یعنی پرانیستونی او ملطف یعنی نرموونی او محلل یعنی محو کوونکی ، بې رنج دی او بی ازاره دی او اماس او پړسوب سخت نرموی او درد سر ته چه له سر دی وی نافع دی .

او هر قسم تبی ته خاصه چه له سودا او بلغم وی سود لری او

پرسوب ته داحشا یعنی رودې فایده لری او که ویی ایشوی په او بو کښی کښینی سنګ ګرده یعنی کانی د پښتو رګی پریباسی او حیفی او بول په جاری کا او حمل به وضع کا او که ویې چښی هم دار نګ عمل لری .

٦ ـ د پښتو تفسیر :

دا تفسیر افضل الدوله افضل خان پښتو کړی دی دا تفسیر هم تر اوسه پورې مونږ ته معلوم نه ؤ او د پښتو ادب په تاریخ کښې یې نوم نه دی راغلی . ددې تفسیر دوه ټوکه د رامپو په رضا کتابخانه کښې موجود دی په یوه ټوك کښې اوه سیپاری او په بل کښې درې سیپاری دی او ښایی چه نور ټوکونه هم ولری .

افضل خان دخپل تفسیر په سر کښې دخپل نسب سلسله په دې ډول ښودلی ده :

منلون ـ مهوزی ـ اتمان ـ سدوزی ـ زلزل ـ عمرخیل ـ مهیخیل جهانګیرخیل ـ نظرخیل ـ سیدخان کور ـ حیات خان کور .

دده پلار فاضل خان او نیکه یې احمد خان نومیده او په هند کښې نواب ؤ لکه چه وایی :

چه امیر امرا د هند وستان دی
بهادر افضل الدوله میر افغان دی
په بل څه یې نظر نشته بی له خدایه
خاص بنده د پاك الله چه افضل خان دی
چه تفسیر یې په پښتو کړله پارسی نه
محبت د افضل خان په قام افغان دی

✡ ✡ ✡

پښتانه وته پارسی ژ به وه ګرانه
دا پښتو به لولی هر امیر ملا

نور پښتو مې دا تفسیر په ډیر اخلاص کړ
که کرم را باندې وکا خدای تعالا
پښتانه دې افضل خان ته دعا کاندی
چه یې و بښی کریم غفار مولا

د پیښور په پښتو اکیډیمی کښې هم دغه تفسیر یوه نسخه شته چه تفسیر افضلیه نومیږی مولانا عبدالقادر لیکی «چه دا تفسیر د حیدر آباد د کن د نواب افضل الدوله په وینا په دغه خواوشا کښې میشت پښتنو عالمانو په کال (۱۱۷۴ هـ) کښې لیکلی دی».

دی لیکی چه نواب افضل الدوله د نجیب الدوله مشهور جرنیل زوی یاوراره ؤ (۱).

مګر په دې لیکنه کښې زمونږ په فکر یو څه اشتباه موجوده ده. که څه هم نجیب الدوله هم یوسف زی ؤ خود ده مرکز په سهارنپور یعنی شمال هند کښې ؤ او په د کن حیدر اباد کښې نه اوسیده. بل د نجیب الدوله په زامنو کښې د افضل خان نوم نه دی راغلی البته یوو رور یی افضل خان نومیده چه هغه په نجیب اباد کښې نواب شوی نه دی بلکه تر نیجب الدوله وروسته دده زوی ضابط خان نواب ؤ. نو اوس زمونږ په فکر یو احتمال پاتی کیږی او هغه دا چه کیدای شی چه د نجیب الدوله ورور افضل خان په د کن حیدراباد کښې نواب شوی وی، یعنی د خپل ورور په مقابل کښې بل ځای دغه مقام ته رسیدلی وی. په دې حساب نو د مولانا عبدالقادر یاد کړی افضل خان د نجیب الدوله ورور کیدای شی مګر زوی او وراره یی ورته نه شو ویلای.

(۱) ـ پښتو مجله ـ ۷ ټوک ۱ ـ ۲ ګڼه د جنوری میاشت ۱۹۶۴ ع

له پورته شعرونو څخه دده لویه نوابی او په هند کښې پوره قدرت څرګندیږی . بله خبر داده چه مولانا ددغه تفسیر لیکونکی افضل خان نه بولی ، مګر له دغی بیتو څخه داسی معلومیږی چه چه دغه تفسیر په خپله ده پښتو کړی دی لکه چه وایی (نور پښتو می داتفسیر په ډیر اخلاص کړ) په هر صورت داخبره څیړ نه هم غواړی.

د تفسیر نمونه :

قل کل - و وایه هر څوك - یعمل - عمل کوی . علی شاکلته - په هغه لار چه موافق دحال دده وی له خیر او له شر او له هد ایته او له ګمراهی یعنی کافر په نعمت کښې مخ ګرزوی او په محنت کښې ناامیندہ شی . او مئومن په اسانی شکر کوی او په سختی صبر کوی او ویلی دی چه شاکل طبیعت دی یا عادت یاسنت یا دین یا مقدار دقوت او د طاقت دا واړه معنی راجع دی په هغه چه هر څوك کار کوی هغه چه په ده ښایی . له حضرت شبلی قدس سره نه پوښتنه وشوه چه کوم آیته په قرآن کښې امید وار تره دی وې وې قل کل یعمل علی شا کلته .

ویلی دی چه په دې آیته کښې امید د څه څیز دی . وې وې چه له بنده جفا او خطا راشی له شومیت دهغه ښایی ،

او چه له خدای وفا او عطا راشی له کرمه د هغه ښایی .

✡ ✡ ✡

دا ترجمه که څه هم دومره روانه او ښه نه ده خو بیا هم یو څه فایده ترې اخیستل کیږی او د پښتو کوونکی دو مره زیار او کړ او دستاینی او نمانځنی وړ دی او که دغه کار نواب افضل خان په خپله کړی وی نو بیا خو نور هم ډیر قدر لری .

۷- پښتو یوسف زلیخا:

دا یوسف زلیخا د عبدالقادر خټک له یوسف زلیخا نه پر ته بله ده چه احمد نومی شاعر لیکلی ده تر اوسه پورې مونږ ته دغه کتاب معلوم نه ؤ او له دی کبله یې د پښتو ادب په تاریخ کښې هم نوم نه دی راغلی. دغه نسخه د محمد میر پیښاوری په قلم په نسخ لیکل شوی ده. ټول مخونه یې (٦٤) دی. د لیک تاریخ یې نشته خو خط او کاغذ د واړه زاړه ښکاري.

دا کتاب نه نثر دی او نه نظم بلکه په نیم منظوم نثر لیکل شوی دی چه داخون د رویزه له سبک سره نزدیوالی لري.

کتاب په دې شان شروع کیږي:

«په قران کښې خدای په خپله ورسول و ته ولی، چه معنی یې په دار نګه معلومیږي اما ما نو دی ویلی چه الف الله قدیم دی لام یې لطف او کرم دی. دا رحمت یې پر دوه کونه پر خاصانو تل رویږي» او خاتمه ویې پر دی ډول شوې ده:

بیچاره احمد هر ګوره ګناه ګار دی د حبیب په روی یې و بخښی خښتنه

هم له واړو مومنانو هر چه دا بیان ولولی یا یې اوری پری خو ښیږي.

د کتاب په یوه بل ځای کښې خپل نوم داسی راوړی:

الله یو نوم د احد دی چه بیان وایی احمد دی

خاك پای د محمد دی

د صدیق په روی می و بښی خښتنه - چه می کوچ د دې فانی دنیا له دار ه شینه.

✡ ✻ ✻

نمونه:

پاك الله وې یو قصه چه در ته وایم ای رسوله - هغه قصه دا نبیاوؤ چه تر تا پخوا تیر شوی قران پر تا باندې نازل شو.

تر تاوړاندې اګاهی نه وه وبل ته - پر داواړه وپوهیږی ء - مصنفا نودی ویلی

چه یوسف وپلار ته ووې چه اې پلاره

ماهم ښه خوب دی لیدلی، چه په خوب کښې

زه دارنګه ځان ونیم، چه یوولس ستوری له سپوږمۍ هم لمره چه سجده ددوی زما په لوری کیږی.

مهتر یعقوب ویل اې زویه - دخپل خوب تعبیر دوروڼو تر میان مه کړه چری نه وی چه فساد وتاته پیښ کاندی اې زویه - ونور چاته یې وایه دوی به بددر سره وکا - شیطان دکل عالم پر غلیمۍ دی که پوهیږی.

(۲)

تاسی واوری ء عالمه د بی بی زلیخا احوال به وایم چه یې کړی خلقوله تفسیره بیانونه که پر جهان کښې ښایسته شی جونه ډیرې، تر زلیخا واړه نه شی نوری جونی برابرې یو په فهم وه ډیره ځیر که، با دهمزولو پر دې ډیر وو مجلسونه اوماغزه یې پر هلړونو کښې څرګندوو هم په تن کښې یې ښکاره واړه رګونه.

یوه شپه په خواب ویده وه - ښایسته یوسف په خوب کښې ور لره راغی لکه زرغون توتا چه کښینی پر ښه ونه - له هغه خوبه شوه را پر تاوه - د فراق اواز یې وکاږه پر زړونه هرګوره داسی په آه په ناله شوه چه تاولی راونه ښوده ځایونه - زلیخاوې که فرشته یې په اسمان کښې دې طلب کړم، او که بادشاه یې نو به دې غواړم په ښارونه.

دغه احمد چه یوسف زلیخا یې لیکلی ده په پوره ډول نه پیژندل کیږی. داحمد په نامه په وروستۍ زمانه کښې ډیر خلك تیر شوی دی د یو احمد نوم داخون درویزه په مخزن کښې هم راغلی دی چه هلته یې یو غزل هم شته. دغه سبك او هغه یو شان ښکاری نو کیدای شی چه سره یو وی سره ددې هم په دې باره کښې په یقین ډول څه ویل ګران دی:

د غه مشا عره د سنبلې په (۹) ما نښا م
په افغانستان راډیو کښې خپره شوې ده

د پښتونستان مشاعره

پوهان وایی ، چه شعر او ادب دژوند تفسیر او تصویر دی ، د حق وینا او رښتیا وینا چه له سوزه ډکه وی شعر دی او که سوزور سره نه وی ، نو حکمت دی .

که شعر له جذباتو نه خالی شی نو ساینس به ترې جوړ شی او که یوازې بې معنی جذبات وی نو تش خالی سینګار به وی ، په شعر کښې دواړه عنصره یعنی هم د معنی او هم د لفظ ډیر اهمیت لری . مونږ هر کال د پښتونستان په یاد یوه مشاعره کوو ، په دې مشاعرو کښې پښتانه ځلمیان داحساساتو او تفکر چپې یو شان په غور ځنګ راولی ، دا دی تاسی به دغه غور ځنګو نه دنن شپې په مشاعره کښې هم واوری ، او یو ساعت به دخوندا ورنګ په دنیا کښې دشعر او ادب له خوږو وږمو څخه خوندونه واخلی ـ په دې وږمو کښې دژوندانه نښا یسته پلوشې په ځلیدو او زړونه په خوځیدو راځی . دادی زمونږ مشاعره د پښتونستان دازادۍ په التجا او د افغانستان د لوړ تیا په دعا شروع کیږی .

(رشتین)

ښاغلی دردمند

د پښتونستان بیرغ ته

سردی ټیټ مه شه تل اوچت اوسی د قام بیرغه
د اتحاد او د یوالی او قیام بیرغه
ته یې شمله د توریالو او ننداره د پیغلو
ټول پښتانه در ته ولاړ په احترام بیرغه
داستا په نقش او نقشی کښې شاهدی وایې، لمر
ته یې ښایست دخپل مرکز او خپل نظام بیرغه
ستا جګولو، رپیدلو کښې تړون ښکاره
په تا کښې راز دسرنوشت دلوی پښتون ښکاره
پیغلې دې ګوره په ګو در کښې خاطرې ستایې
تاریخ دانان دې په تاریخ کښې سالګرې ستایې
خوښی دزړه یې سلامی ته دی مونږ سرټیټوو
د پښتو نښی ما شومان دی نندارې ستایې
عهد وپیمان د پښتنو یې خاطره د تاریخ
احساس تخنیږی سترګی ستا مظاهرې ستایې
ای په قسمت او فیصلی پسی روان بیرغه
د خپل عزیز پښتونستان ملی نشان بیرغه
ځانله مرکز، ځانله اساس قومی لښکر لرې
ژبه کلتور او خپله ځمکه سمه او غر لرې
قام او قبیل کلی کورونه خپل تشکیل دی معلوم
ملی تنظیم، تیرا، بولان او پیښور لرې
خیبر دی خپل، چترال دی خپل دی ترګلګته پوری
سوات اودیر، خاپښ کیمور او لوی دفتر لرې

ای د اټک او تنول او ما نسهری بیرغه
د باجوړ او د مومند او د باړی بیرغه
مسید ، وزیر او بیټنی درپسی سم ولاړ
کاکړ بلوڅ او اڅکزی په یو قسم ولاړ
د وړ ، شنواری ، بنوڅی او د ختکو ارمان
اتمان ، یوسف او ملیزی درته هردم ولاړ
ستا رپیدل قام ته الهام د ژوند پیغام رسوی
تاته خدای خدمتگاران گوره محکم ولاړ
ته یې پیمان دخپل خواره پښتونستان بیرغه
د آزادی او خپلواکی گټو اعلان بیرغه

اجمل ختك

دغیرت چغه نومې کتاب نه

زه هم ځلمی یم !

زه هم شاعر یم د چاد نګې سپینې غاړی سره
د لونګیو په تال خپل فکر ز نګو لې شمه

زه هم فنکار یم دچا تورو خمارو سترګو کښې
د پیغلتوب شراب یې جام وکاسو څښلې شمه

زه هم د تورو ګورو زلفو عنبری سورو کښې
د نوی حسن په باغچه ځان ور ګولې شمه

زه هم دګرمو ، پستوشونډو انګوری پیالو کښې
ځان ته د عشق آب حیات تیار ګولې شمه

زه هم ځلمی یم لیونې زړه مې مستی غواړی
په مرمرینو لپچو خوب د چا سکنی غواړی

زه هم دغوښې زړه لرم سینه کښې کانی نه دې
رانه ښائست غواړی مستی غواړی خندل غواړی

دزلفو څوکو سره لوبې غواړی ، مینه غواړی
ملال بانه خونړی سترګې ، مړه کتل غواړی

چه د مکیز خند ادپیغلو انګو ، او وینی
ځما زړه هم ورته بې صبره پسخپدل شروع کړی

چه د ښو لاندې کاږه دخیال کاته او وینی
ځما ګوګل کښې هم څه پټ پټ تخنپدل شروع کړی

ځما زړه هم د مینی ډک د ی مینتوب غواړی
ژوندون په خوا کښې د بې کچه پیغلتوب غواړی

خو

ولې آشنا داهر څه خیال اوګڼه خوب او ګڼه
خدائېګو که دې ته یو لحظه ؤزګار پدلې شمه
داخو مستۍ دی خوشحالۍ دی اوخندا هوس دې
والله که زه خو هغه ساه هم اخستلی شمه
ځما د خیال په ځلمی توب ګونی لګیا دی خوری ئې
قسم که زه خو د نیمګړی ژوند په خوند پوه شومه
د حیات وینه مې څربې څربې ژورې او څښی !
قرآن که زه خو د دې زیست روزګار په بند پوه شومه
حسن به څه کړم چه زړګې په خوارو خوار لرم
مینه به څه او کړم چه ژوند په اوږو بار لرم
چه مې دمور د سر پړونې لاتار تار پروت وی
زه به دمستو لو پټو خوبونه څۀ او وینم
چه مې د خور سر لاسر توروی د ظالم د لاسه
زه به د تورو پلو کو(۱) خوبونه څه او وینم
چه رانه چار چاپېره ټول ماحول سلګی سلګی وی
وایه دسر وشو نډو خندا باندې به څه پوه شمه
چه خپل کرلې فضل ټول راته ازغی ازغی کړی
د بل د ګلو په مسکا باندې به څه پوه شمه
چه مې نیاز بین بچی دولوږې مری زۀ ګورم ورته
ملګرو! څنګه به دمینې خر مستۍ او کړمه
چه ځما ګټه بل څټی او ماد ولوږې وژنی
داسې پردی نظام کښې څنګه خوشحالۍ او کړمه
چه سړ یتوب پکښې تللې شی دزرو په تول
ملګرو! طمع ترد لوړ انسانیت او کړمه
چه پکښې حسن و محبت هم په نېلام خرڅیږی
سړو! هغې بازار کښې عشق او کړم الفت او کړمه
تاسو خو عشق وائیۍ د ژونده هم بیزار ناست یم
هر څه چه کیږی یوې چغې ته تیار ناست یم

ښاغلی رشاد قندهاری

حریت

د مجنون ژوندون به څه وی چه لیلا مری ؟
څه په کار دی تش کالبد چه زړه د چا مری
زړه ډیوه ده دا د ختو په قالب کښې
خدای ومه کړه چه به دا ډیوه د چا مری
چه مرغه لاړ شی قفس د ماتېدو دی
که به زړه مری تش ګوګل دې لا پخوا مری
هیڅ ممکن نه وی پا ینښت د هغه پړی
زړه چه مری کالبد مجبور دی خامخا مری
(حریت) د هر ملت د بدن زړه دی
که دا نه ؤ هم ملت مری هم بقا مری
چه د بل دا شارت په لمومه اړ شی
په هغو زړو کښې غیرت، خودی، غنا مری

ننګ یوسفزی

زرغون ټال

څوك تخیل د بوډۍ ټال ته خیږی
د ما شو ما نو زنګول غواړی

څوك د ارزو د تقدس په شمعه
تاندی ځوانی لوګی کول غواړی

څوك د ساقی په یوه مسته خندا
د اسمان ستوری نځول غواړی

څوك د مظلوم دسوی اه په خاطر
غرونه زرغونه لړزول غواړی

څوك د پسرلی د رنګ و بو په اوږو
رنګینی هیلی بار ول غواړی

څوك د زیار کښ د اوږو بار کوزوی
د غریب پیټی سپکول غواړی

څوك په سپیدو ګرځی کوکی ټولوی
د چا ور بل سینګا رول غواړی

څوك د نیمزالی د اغزنو څڼو
په بار خو غنی انول غواړی

څوك د پاولو د شر نګاشر ونګ لیونی
ځان په دې لو بو غولول غواړی

څوك په جیلو نو کښې د قام د پاره
د ځنیر و نو ما تول غواړی

څوك د اغزن فكر په كر كرونده
د اولس لاري شاړول غواړي
څوك د پلار مړی زوی تنكو پاپو له
په بنو لار جارو كول غواړي
څوك د رحمان په ځمكه اوربلوی
سمسوری د بنتې سو زول غواړي
څوك د رحمت دا با سين په اوبو
و چې ميرې خړو بول غواړي
څوك بوالهوس د نتكو پړی غړی
ځان كهكشان ته رسول غواړي
څوك متورد لوړو غروشاه زلمی
د غلامی كړی شلول غواړي
څوك تشتور خان را ته اوس خان جوړيږی
زما د سر سودا كول غواړي
څوك په ربنتونی ځان ځماله سره
خپل سر و مال قربا نول غواړي
څوك خود غرض او به په ډانګ بيلوی
نوك له اوری جدا كول غواړي
څوك ببر ځنی په يو وا لی مين
ځيری ګريوان پيوندول غواړي
څوك د مجهول تقدير په لو مو بنكيل ته
نوی دامونه جوړول غواړي
څوك ننګالی د ننګ سندری وايی
ويده پښتون را ويښول غواړي

د ښاغلی زړه اپر یدی

خوږې ټوټې

څوك میخانه او څوك ساقی ستایي
څوك حجاز ی او عر اقی ستا یي
ز ه یي چه شا مو د ام ستاینه کوم
څوك به یي څه ر نګه با قی ستا یي

✲ ✲ ✲

چا ته لوی ظلم لوی عذاب ښکا ر ی
ما ته خوستا غذ اب ثواب ښکاری
د ستا د خدای عذاب به لا څنګه و ی
جو ړی د اهسی خیال وخواب ښکاری

✲ ✲ ✲

لا د سحر په مخ ما ښام پر و ت دی
سفر په سر دی نه چه ګام پروت دی
د عمل فصل دی په او ښکو تر کړه
بار په اوږو دی کام نا کام پروت دی

✲ ✲ ✲

سبا بیګا، بیګا سبا ، او ر بل به څو مره ښه و ی
زړګیه ! فکر وکړه دژوند حل به څو مر ه ښه وی
چه ژوند شی کړیدل او زوریدل دزړه چاو دون
ګوګل چه وی ګوګل وایه ژوبل به څو مره ښه وی

زاهده! لاس په خوله شه نور په دی کښی دی خیر نشته
ستائیل چه پکښې پیغلې شی غزل به څومره ښه وی

✿ ✿ ✿

ساقی په خوند کښی راغلو دواعظ ایمان یې درو ند کړ
و ئیل یې چه کمبخته لار ښودل به څومره ښه وی
غو ټۍ د جمعیت می جوړ وی ځان غوړیدو ته
لالیه! فکر و کړه دامزل به څو مره ښه وی

دارنځ دی پسی زیات شی ستادمینې په روغتون کښې
بقا که را عطا کړی دا در مل به څو مره ښه وی
د زړه غو ښې چه ما له را کوی په ډیره مینه
پښتو چه می پښتو کړی د اسی مل به څو مره وی
عابده! دا څه وایې ته په خو دیې که او ده یې
محراب دی دو مره ښه، دیار درشل به څو مره ښه وی

✿ ✿ ✿

شملې دی لو پټې، خوا ره څا نګو نه و ر بلو نه
سکڼی ماښام پری تو ددی دامحفل به څومره ښه وی
زا نګو چه د آر یا ده، سر تر پښو ښکلا ښکلا ده
دمینی هنداره ده زړه! کابل به څو مره ښه وی

«ع» «پرهیز»

دازادی دور !!

تر څو دحق په نوم دنیا کې انسانان وی ودان
په دې اساس به دپښتون پښتو نستان وی ودان

✡ ✡ ✡

انسان ازاد دی پیدا شوی قید و بند نه منی
چه کرامت لری فطری د چا گزند نه منی
دمساواتو په اصول به ټول جهان وی ودان
په دې اساس به دپښتون پښتو نستان وی ودان

✡ ✡ ✡

نن په دنیا کې ډنډورې د آزادی غګیږی
دحق په نوم کوی قیام څوك له چا نه ویریږی
دآزادی په لوری یون دی که ایمان وی ودان
په دې اساس به دپښتون پښتو نستان وی ودان

✡ ✡ ✡

انسانان غواړی له دنیا نه استعمار لری کړی
داخوت مزی کړی ټینګ داړه اشرار لری کړی
څو چه دنیا کې د «یو نو» دالوړ بنیان وی ودان
په دې اساس به دپښتون پښتو نستان وی ودان

✡ ✡ ✡

پښتانه حق لری چه ځانته خپل نظام کاندې جوړ
نور وقامونو غوندې ځانته خپل مرام کاندې جوړ

غواړی په روغه خپلواکی پښتون په ځان وی ودان
په دې اساس به د پښتون پښتو نستان وی ودان

✡ ✡ ✡

د بل په حق باندې تیری، پښتون روانه بولی
څوك چه تیری کوی په بل هغه رسانه بولی
غواړی چه څنګ کې یی دوه ورونه پاك افغان وی ودان
په دې اساس به د پښتون پښتو نستان وی ودان

✡ ✡ ✡

نن په دنیا د آزادۍ دور راغلی پدی ټول پوهیږی
« پرهیزه » ګوره استعمار ته چه ورو ورو ور کیږی
دنیا کی عدل و مساوات به په شان شان وی ودان
په دې اساس به د پښتون پښتو نستان وی ودان

عبدالکریم (محب)

«زما تصمیم»

غواړم قوت چه دادخاورو ګټوز وړ جهان نه
ربړ ځپلو ته د عشق یو خوږ جهان جوړ کړم
د مظلو مۍ د سو واو ښکو نه د شعر په اعجاز
زور زیاتی اوهو سو نو ته طوفان جوړ کړم
دحق دلارې د شهید وروستی ارمانه ځنی
د منصفانو خبرو لو ته داستان جوړ کړم
غواړم د نیاشی ځای د مینې د بشرلپاره
بنګلو د ظلم نه دسو لې بز مستان جوړ کړم
چه سوزولی پخپل تاود استعمار دنیاشی
غواړم دسوی زړه دسوزهسی فغان جوړ کړم
هر یر غلګر ته چه حقو نه دانسان ښکاره کړی
غواړم دحق مظهر یو نوی رنګ دیوان جوړ کړم
دا ارمانجن زګیروی غوږو ته د هر چار سوم
خمار زپلو ته د نوی ژوند صهبار سوم
چه دباړې زوږونه ټول د آزادۍ نغمې وی
د حق په زور به دلته هسی زمانې راولم
چه غم شی هیر دچار سدې دشهید ناوې ځنی
دموسیقار ژبې ته هغه ترانې راولم
چه دمودو مودو خمار ته مستی ورکړی نوې
نوی ساقی سره د نوې پیمانې راولم

چه هر رقیب تر ې عبرت واخلی مونږ ژوندون ته پریږدی
نو وفکرو کښی یاد د تیر ې افسانې را ولم
داستعمار دنا کرد و خزان یم ډیر زپلی ،
د پسرلی وږمی تر خپلی آستانی را ولم
چه هر یو پل ته یی لیمه په افتخار غوړ وی
د آزادۍ ناوې ته هسی نذرانې را ولم
ددغه وخت بی درد ته رحم شفقت ښیمه
انسانی مینه عاطفه حس دحرمت ښیمه
حه شی خبر د پښتنو د زندانیانو په حال
ددې دنیا هر یو زړه سواندا وهر داده کر ته ورځم
داستعمار سختو ظلمو ته چه لږ و پاریږی
د دې جهان د عدالت هغه محضر ته ورځم
چه د شهید ددردانه یتیم په حال یی کړم پوه
دمحکو مانو پښتنو د ژوند رهبر ته ورځم
خلکو زما ابراهیمی جذبې لیدلی پخوا
هغه زلمی یم چه په شوق دحق شرر ته ورځم
دژوند آخر وخت کښی چه وناڅم دحق په نامه
دسپیلنی په څیر په مینډه هر مجمر ته ورځم
نه یم بی دمه چه ساحل غوندی ساکن پاتی شم
لکه څپی په شور دمست ژوند سمندر ته ورځم
خپلې ټولنې ته دمینې خوږ ژوندون غواړمه
چه کړی دعدل جهان جوړ هغه قانون غواړم

ښاغلی لعل زاده ناظر شنواری

د پښتنو خبرې!

وی در ښتیاؤ خو دوه دری سره د د و و خبرې
د پښتنو وی همیشه سره یو څو خبرې

او روچه، وشوی د سپین ږیرو په جرگو خبرې
ضرور به وشی په میدان کښی د زلمو خبرې

اوروچه یو ناڅاپه حال ته د پښتون شو فکر
ښکاری همدائی د تقدیر د بد لید و خبرې

د ایشیا را ته یو نوی مستقبل ښکاری
اوروچه پریښودی تر بر ؤ د تر بګنو خبرې

وینو چه لو ښی یو تر بل پښتنو ور کړه سره
اورؤ چه لاړې یو په بل د بد رګو خبرې

ژبه که غوڅه د پښتون شی بیائی هم ژبه وی
د ملا تړ او پښتو وشوې په پښتو خبرې

که کړی پښتون ته کړه همیش د پښتنو خبرې
څومره درنی وی ء په درنو تل د درنو خبرې

دا بدالی او میرویس خان روح ته تسکین ورسید
د قامو لی چه سره و کړې ننګیالو خبرې

«رازقی» نرنگی

پښتونستان وطنه!

ای د پښتون پښتونستان وطنه
په شا زلمیو باندی ګران وطنه
نړۍ کی نن ستا خپلواکی غواړو موږ
پښتون اولس ته ښه ښادی غواړو موږ

ای د چترال د جګو غرونو خوګی! ای د ګلګت د شهامت آسمانه
د اباسین مستو څپو کی پروته پښتنی ننګ او د غیرت توفانه
ای د خیبر د افتخار افقه په ښکلو ستورو د عظمت روښانه
ای د تیرا او د بلوڅ زمزمی ای د پښتون د سر لوړی نښانه
له تا سره نه موقر بان وطنه
ای د پښتون پښتونستان وطنه
په هر قیمت ستا ابادی غواړو موږ
نړۍ کی نن ستا خپلواکی غواړو موږ

ای د تاریخ پاڼو کی نغښتی لعله! ای د شیرشاه او خوشحالخان دیره ګی
د احمدشاه بابا محبوبی خاوری ای د ایمل او د رحمان دیره ګی
د د ې سپیڅلو پښتنو وجوده ای د میرویس او د روښان دیره ګی
د مړنو د میړه تو ب اسراره ای د بابا فخر افغان دیره ګی
د نیا ته دادی مو اعلان وطنه
ای د پښتون پښتونستان وطنه
نوره پښتو، پښتونولی غواړو موږ
نړۍ کی نن ستا خپلواکی غواړو موږ

ستا په نوم ډېرې آرزوګانې لرو ای د زلمو د رازمنې جونګړې
تاکې پیدا تاکې روزنه مو مو د پښتنو د شتمنې جونګړې
د غیرتې د لیل د ژوند تعبیره ای پرونې ای ننې جونګړې
د توریالو او ننګیالو ځانګوټې دخوږژوندون دواکمنې جونګړې

په دې د نیا جنت نښان وطنه
ای د پښتون پښتو نستان وطنه

دې زهیر قام ته نیکبختی غواړو مو
نړۍ کې نن ستاخپلواکی غواړو مو

ستا دځوانانو په غرمو کې ناڅې ستا دلوړ تیا ستا دنهضت ولولې
پیغلې سندرې ستا دننګ وائې تل په زړو کې شته ستا دمحبت ولولې
په دې پیغلوټو جذبو کې ګوره پرتې دی ستا د کرامت ولولې
په پښتونخوا کې پاریدلې غوندې ستا د اثبات او حقیقت ولولې

ژوندی دې ښایو په جهان وطنه
ای د پښتون پښتو نستان وطنه

پښتون یولاس اوورورولی غواړو مو
نړۍ کې نن ستاخپلواکی غواړو مو

د سر د رو او تا تر و د زلمو د غورځنګو نو ارادې وینې دی
ستا د ګټلو ، ملیت د مفهوم ځوانو فکرو کې مفکورې وینې دی
فداکارۍ ، وفادارۍ په تړون د ولسو مبارزې وینې دی
د نوی ژوند نوی نظام د پاره مقابلې ، مجاهدې وینې دی

تا به ګټو په سپین میدان وطنه
ای د پښتون پښتو نستان وطنه

«رازقی!» قوم ته آزادی غواړو مو
نړۍ کې نن ستاخپلواکی غواړو مو

(حافظ)

څه ولیکم

قلم را واخلم کاغذ وسکنم چه څه ولیکم
په تصور کښی می دخیال مارغه هواته لاړشی
زړه ته په زوره د خوښیو پیغامو نه راوړم
وګندی چه غم دد نیاګی می بلی خواته لاړشی
وایم چه و کړمه د ګل او د بلبل خبری
خو دادراك نظری منډه کړی بیدیاته لاړشی
احساس دشعر مې مدام په خوږو زړونو ګرځی
زه ئی را بولمه خندا ته دا ژړا ته لاړشی
زړه خو دزړونو سزه لار لری زه څه وکړمه
ناست یم په چرت کښی چه دځان او که دزړه ولیکم
قلم راواخلم کاغذ وسکنم چه څه ولیکم

* * *

دیو زلمی شاعر د خیال بلبل به چرته ګرزی
د چا د زلفو په ګلشن کښی به سیلونه کوی
یا به وی نغښتی دسر کو شونډوهاله کښی چرته
په ترنم کښی به د مینی آو از و نه کوی
یا به ز خمی وی د کږ و بنو په غیشو د چا
په پر هر زړه به ویر ژړلی فریادونه کوی
یا به پتنګ غوندی دچا د سپین جبین په ډیوه
په سوی زړه باندی د حسن طوافو نه کوی

ګرانو ملګرو ګرم مې مه بولئ ښښنه غواړم
فکر وهم خیال زغلوم چه یو څه ښه ولیکم
قلم راواخلم کاغذ وسکنم چه څه ولیکم

✡ ✡ ✡

زه چه رایادې کړمه زلفې دسپین مخ له پاسه
د چا له خوارو جړ و څنو الهامونه واخلم
دزړه په زړه دخولی په خوله شی رانه پاتی خبر
له ښا ئسته مخو به څنګه پلو و نه واخلم
په شا اوخوا کښې وچې شونډې زیړ رنګونه وینم
ساقي! په کومو لاسو تا نه ډک جامونه واخلم
زما دزړه په ګل خزان د بهار بوی نشته دی
د بل د خیال له پسرلی به څه ګلونه واخلم
خاطر دمینې دې ډیر ګران دی ګرانه یاره زما
ته راته وایه چه خواږه او که تراخه ولیکم
قلم را واخلم کاغذ وسکنم چه څه ولیکم

✡ ✡ ✡

وایمه داچه کړم را ټول یو څو د شعر ګلونو
او ورنه جوړ کړمه ا میل د محبو با غاړی ته
ما نه په دی فکر کښې ځان اوجهان هیر وی دواړه
ځکه سوغات د ګلو لیږ مه د چا غاړی ته
د زنګون سترګه آئینه د سکندر شی راته
نظر مې رسی د دنیا د هری خوا غاړی ته
چه په کښې څیری ګریوانونه پښتا نه وګورم
بس نو د غم سودا را ولویږی ز ما غاړی ته

باران داوښکو می دستر گو له آسمانه اوری
په هر قدم کښی یم مجبور چه ژړیده ولیکم
قلم راواخلم کاغذ وسکنهم چه څه ولیکم

✡ ✡ ✡

د خیال گوزر چه په دیرو د محکومانو وشی
اوښکی شی وینی شی دردونه فریادونه راوړی
د لوی خیبر د کږ لیچونو دشپونکی په نغمه
چه زړه ناساز کړی راته هسی رنگ سوزونه راوړی
د شهیدانو له جنلو په مینه و ځمر خیبر ی
خپه خواشینی ستړی وړی مات ځانگونه راوړی
د ننگیالیو تو ریالیو په حجرو و گرزی
نغری ساړه وی تری ساړه ساړه آهونه راوړی
هغه بی بی چه د جیلو نو منجاوره ښکاری
په زوړ گریوان به ئې داوښکو څڅیده ولیکم
قلم راواخلم کاغذ وسکنهم چه څه ولیکم

✡ ✡ ✡

زیاتی له دی نور د لیکلو څه شی پاتی نشو
بی غیر له سو و ارمانونو او غمو نو ځنی
سوی ناری می ډیری وکړی د پښتون ټبر له
چه خدای دپاره شیء راپورته له خوبونو ځنی
د اباسین هره څپه می کړه د ننگ سندره
د آزادیء نسیم می ساز کړ له سوزونو ځنی
دلوی خوشحال توره می ډیره ورته وستایله
کړل می خبر د پښتونخوا له عظمتونو ځنی
اور می د زړه په ارمانو نو زیاتی ولگیده
د زړه له درده به نوزه هم سوزیده ولیکم
قلم راواخلم کاغذ وسکنهم چه څه ولیکم

«سیلاب» صافی

د محکوم ماشوم په یاد

محکومه ستا له اسر وډکی اوښکی
دنګی ماڼۍ په لړزېدور اولی
ستا د اوړی وړی سلګۍ مظلومه
ځکه آسمان په زنګېدور اولی
ستا د حسرت نه ډک او از غریبه
وینه د قام په خوټکېدور اولی
قسم دی ستا ساړه ساړه اسوېلی
مړه اوژوندی په ژړېدور اولی
د استا له حاله دی خبر پښتانه
په ماتم ګډ دی لرو بر پښتانه
ستا په پوښتنه د پښتون بچوړیه
له پښتونخوا نه قافلی راځی
ستا په سودا دهر پښتون له ستر ګو
د سپېنو اوښکو سلسلی راځی
ستا د نېکونو د تیر برم په یاد
په غلېمانو زلزلی راځی
ستا د وطن دلوی عظمت په نامه
په کاڼو بوټو ولولی راځی
ستا هره اوښکه قیامتونه غواړی
له شاه زلمونه غیرتونه غواړی

بس دی و نه ژا ړی سلګی بس کړه
په دې ژړا پسی خندا شته دی
رنګو نه ډېر دی دو اګانی ډېری
چېر ته فرعون هلته موسی شته دی
داد غم تو ره شپه به ستاشی رڼا
پدې تیاری پسی سبا شته دی
خدای به ډېرزر پښتونستان جوړ کړی
دغه امید نن دهر چا شته دی
داز حمتو نه به راحت شی آخر
له خاورو پورته به ملت شی آخر

یو پښتو نستانی وایی : قتیل خوږ یانی

څه وکړمه

فکر خراب ، شعور نه ، لار ور که شوه
په بینا ستر ګو لا ر ئید لی نه شم
ګرد و غبار او تو فا نو نه ، را ځی
له ډا ره ستر ګې خلا سو لی نه شم
د تر س و بیم او د تهدید نړ ی کښې
د حق او ز پو ر ته کو لی نه شم
بصیر ت نشته د ی شعو ر کم شو ی
ځکه له ځا یه ښو ر ید لی نه شم
په بې قد ر ی د د ې جهان شه قسم
د یتیما نو پـه فغـا ن شـه قسم
قا تلا ن و ینم ار ز و ګا نې وژ نې
وایه چه چا ته له چا عرض و کړمه
ر بړاو ز حمت ، تکلیف لیکلی ما ته
په کوم اسا س په دنیا عرض و کړمه
د عد ا لت نړ ی به چېر ته و ینم
په کوم ر شتینی ر ښتیا غرض و کړمه
دژ و ند ا نه حق ته مې غاړه نه ږدی
چا ته له د غې د نیا عرض وکړ مه
محر و م له حق او حقیقت یمه زه
د ژ و ند ا نه له ما هیت یمه ز ه

د احتیاج ژوندرا ته قلم لیکلی
خدایږو په خپل قلم مې قارر ائحی
د تظلم نړۍ کښې ژوند کومه
همت به کله په دې لار رائحی
لمبې مې واخستی له خپل قسمته
کوم سبا غواړم کوم سهار رائحی
د انتظار کاسه لبریزه شوله
دیار په ځای راته اغیار رائحی
ما ته په خپل احوال ژړا رائحی
د نورو ما پورې خندا رائحی
دزړه پر دو کښې امید و نه لرم
دارزو ګانو مې حساب نشته
که نړۍ وال لږ ملتفت شی راته
په ملګرتیا کښی مې عذاب نشته
اخوت ورک شو خلک ظلمونه کوی
د چا نظر په دغه باب نشته
خپل حقوق غواړم مستحق یمه زه
کار مې د نورو په کتاب نشته
د ژوند حقوق لرم انسان یمه زه
او مستحق د خپل جهان یمه زه

پېغله کبرا مظهری

د وخت پیغام

پښتون اصیل دی خامخا پښتونستان جوړوی
له خپلو د ښتو د سرو ګلو ګلستان جوړوی
شعور ویښ شوی غیرت غواړی آزادی دوطن
له خپلی سیمی نه وباسی بر بادی دوطن
نه غواړی نوره بی وسی نا امیدی دوطن
مجاهدین غواړی په مینه آبادی دوطن
ځملی تړون دی ننګیالی میدان ته ځان جوړوی

✡ ✡ ✡

د وخت پیغام دی د هدف طرف ته یون دی زمونږ
د زړه مرام پښتونستان دهر پښتون دی زمونږ
مجاهده ده غیرتی ملی تړون دی زمونږ
د تورو شپو پسی راتلونکی سباوون دی زمونږ
دا تړمی او ښکی دیتیم به لوی توفان جوړوی

✡ ✡ ✡ ✡

ځلمو سرونه دی ورکړی تل د قام د پاره
د خپل ژوندی موجودیت او ننګ و نام د پاره
پښتنی پیغلی ئی ملګری دی مدام د پاره
ملی قیام دی له غلیمه انتقام د پار
(کبرا) به دخود د پښتنو د حال داستان
له خپلو دښتو د سرو ګلو ګلستان جوړوی

ممنون

پښتنی احساسات

صحیح مرام پاکه جذبه ده زما پاکه آرزو پاکه اسره ده زما
رڼا دورځ کړی په تورتم بدله دا د آهو نو سلسله ده زما
د حق ویلونه به وانه وړمه د دار په سر هم دا ناره ده زما
دحق په لیار فنا کیدل وی فخر دا سی فنا ته تلو سه ده زما
د حقیقت د شمعی اور باندی لکه پتنګ غورزنګ حمله ده زما
زه د تاریخ د کارنامو یم پیغام له هرڅه لویه هنګامه ده زما
د نور و خلکو له وسلو بی پروا پښتونولی غوره وسله ده زما
د پښتونوالی نه به ځان کړم قربان دا د قرنو نو ترانه ده زما
میونده ستاسینه کښی ښځه ګوره د قربانیو کارنامه ده زما
ستا آزادی به په سر و وینو ګټم دخوشال روح ته داوعده ده زما
زه دخپلواک ژوند سباؤن پسی مرم په استعمار ناکامه شپه ده زما
دخیبر ترخوټول خنجر خنجر شیء ستا سو سر غشو ته ګیله ده زما
ای اباسینه ټول غورزنګ غورزنګ شه
مستو څپو کښی دی نغمه ده زما
د پښتونخوا دمظلومانو زګیروی همیش د شونډو زمزمه ده زما
زه به نو څنګه پټه خوله پایمه
ممنونه زړه کی چه لمبه ده زما

اسدالله «لودین»

ټول په یوغږ پښتونستان غواړو

چا راته وویل ملګری یه راځه د آزادۍ په نوم ځوانان راټول دی
د سر نوشت او فیصلې د پاره لږ و بر ټول په یوه میدان راټول دی
دا د پښتو او پښتونوالی په نوم د پښتو ژبې ادیبان راټول دی
زړه مې احساس ته غلی غلی ویل قلم په لاس کښې شاعران راټول دی

نور د کړا و ژوند قبلو لی نه شی
پیغور د بل په ځان منلی نه شی

مونږ دیووالی او دوحدت په نامه ځانته آزاد یو حکومت خوښوؤ
چه خپله خاوره کښې خپلواک ولرو ژوند د یوالی او وحدت خوښوؤ
نوردچا زورزیاتی په ځان نه منو له غلامۍ، مرګ زرکرت خوښوؤ
چه دادظلم تیاری ورکې شی پرې پښتنې عزم او همت خوښوؤ

ټول په یو غږ پښتو نستان غواړو
آزاد ژوندون آزاد جهان غواړو

دسر په ورکړه به آزاد کړو وطن نور دبل چا حکم په ځان نه منو
سر موقربان، مال موقربان شه ترې نه ملك د پښتون کښې د بل شان نه منو
په خپله خوښه به خپل ژوند کوو مونږ مونږ پښتانه پردی نشان نه منو
ده غلامی کښې بد نامی د پښتون د بدنامی ژوند په جهان نه منو

راسره ټینګه اراده ده زمونږ
په زړه کښې وینه پښتنه ده زمونږ

یا به شهید شو د وطن پـه مینه یا به آزاد ځانله ژوندون وګټو
یا به شومړه دقام ملت په غم کښې یا به لیلی ته خپل مجنون وګټو
یا به کړو ورکه تر بې مې د جهل یا به کفن ځانته ګلګون وګټو

وائي «لودین» دغه اعلان دی زمونږ
د پښتنو پښتو نستان دی زمونږ

(عبدالله غمخور)

د قیدی پښتون پیغام

د سوی زړه سوې ناري او فریادونه ځما
د غیرتی وینی د څړیکو پیغامونه ځما
داتکړیو شر نگهار شور و سازونه ځما
په اوښکو تر د جیل له خونې سلامونه ځما

د سبا باده لور په لوری پښتنو ته ویسه
کلی په کلی نر و ښځو او وړوته ویسه

وایی غلیم راته پښتو او پښتونو اله پریږده
په خپله سیمه کښی خپل سر ته مغل واله پریږده

د آزادۍ جذبه که لری د غه خواله پریږده
دخپلی خاوری لاس په سر که خپله جاله پریږده

مرګ مې قبول دی دغه چاری قبلولې نشم
د پښتون زوی یم پښتون واله پریښو دلی نشم

که می سختی په وجود زیاتې لا تر دې راشی
اوښکی د غم مې په ګریوان ولې ولې راشی
وینې د زخم مې په زړه سړی سړی راشی
یا می خولې د ځنکدن په وجود مړی راشی

له خپله هوډه به وانه وړم دامی عزم کړی
سر به هیچاته ښکته نکړم دامی جزم کړی

ملا مې تړ لې د وطن عزت وشان ګټم
سر مې دا وکړی د پښتون نوی جهان ګټم
شریکه خونه لوی ناموس دلوی افغان ګټم
دحق په توره دغه ځمکه پاس آسمان ګټم
لکه مجنون په دې لیلی پسی مفتونه ګرزم
ورکه مې شوی دهر جیل په توره خونه ګرزم
ځان او هستی د پښتون والی نه قربان ځما
ترې صدقه ما لو عیال شه فرزندان ځما
زه دې شم خاورې خاوری مشه د ارمان ځما
تاج د عزت د پښتنو پښتونستان ځما
یا به پښتون له دخپل واکی ژوندون کور جوړ کړم
یا به د جیل په ترږمو کښی ځانله ګور جوړ کړم

ښاغلی مجاور احمد «زیار»

د پښتونستانی شاعر پیغام

د خپلواکۍ د لوی منزل په هڅه
د ویده قام د ویښولو ارمان
په خپل وطن کښې بې وطنو لره
د یو وطن د جوړولو ارمان
دزړه خوږلن کښې مې سپرغۍ لټوی
د استعمار په خونه اور لګوی

✻ ✻ ✻

له خپله برمه او عظمت خبروم
یو د فطرت ستر ګومنلی مخلوق
نور رابلم د ژوند انه صحنې ته
یو د دنیا له پام لویدلی مخلوق
چه فیصله د خپل قسمت وګټی
ځان ته آزاد موجودیت وګټی

✻ ✻ ✻

غواړم په خپلو سو وسو نغمو
ما یو سې هیلې په نڅا راولم
دزړه له سوز ورته ډیوه بله کړم
تیاره ماحول و ته رڼا راولم
چه نه لیدونکی ستر ګی ځان ووینی
اول خپل ځان او بیا جهان ووینی

چه له باطل سره قیام د پاره
وینی دحق کړم په رګو کښې تودی
چه په جذبه د انتقام سره کړم
څریکی د عزم پر هرو کی تودی
په ترانو کښې دا الهام لرمه
ځان سره هسی رنګ پیغام لرمه

✡ ✡ ✡

چه د خپل ځلنده تاریخ په خاطر
دننګ ناموس او پښتنوالی په نوم
دځان ځانی پټونی هیر کاندی ور
سره راټول شی د یووالی په نوم
د خپلی بر خنی فیصلې د پاره
د یوې نوی مرحلې د پاره

✡ ✡ ✡

چه د بی وا که منصبونو په ځای
دخپلواکی ځان ته جهان کړمه جوړ
دقام له مینی خپل هوس کړمه ځار
دولسی ژوند نوم نښان کړمه جوړ
له سر و مال ځنی دانګل منمه
لکه منصور په دار ز نګل منمه

✡ ✡ ✡

چه خپل پایماله حقوق بیر ته ګټم
په دې خبره ګنهګار خونه شوم !

چه ورکوم په توره ځواب دتوری

ای دانصاف دنیا ظالم په څه شوم !

زه ظلم نه کړمه ظلمو نه ژاړم

له ظالما نو خپل حقو نه غواړم

* * *

ما د غیرت دا فیصله کړی ده

ځم دا غیار و پیما نی ماتوم

په بې ګناهو مظلو ما نو پسی

د ظالما نو جیلخا نې ماتوم

په دغه لار باندی تکل دی زما

قوی ایمان دلارې مل دی زما

* * *

لیکونکی محمد صفدر «سالارزی»

پښتنو یوشئ

ټول شئ اتفاق پښتنو پریږدئ ځان ځانې نوری
هیر ی واړه خپلې د ښمنې کړې پخوانې نوری
ټینګې وعدې وکړې په سوچه ایمان دارې نوری
و غورزوئ واړه تر بګنې او پریشانې نوری
لاس د وروری ورکړې په رښتنې یو له بل سره
غم او ښادی ګالې په شریکه واړه تل سره

✿✿✿

یو زړه یوه خوله شئ که رښتنې حریت غواړې
تل که په نړۍ کښې آرام ژوند موجودیت غواړې
بیل که د اغیارو ځینې خپل مرکزیت غواړې
یو ځای د ازری زری و جود او ملیت غواړې
ټینګک په پښتون واله او پښتو او ورورولی اوسئ
بیا د ښمنانو په سر تندر او بلې اوسئ

✿✿✿

کله بې وحدته څوك مطلب ته رسیدلی شی
کله بې زحمته څوك معراج ته ورختلی شی
کله قومې ژوند بې اتفاقه څوك لیدلی شی
کله بې دواد ناسور زخم رغیدلی شی
دغه مشکلات دار و در مل پښتون ولی غواړی
ټینګې ایرادی قوی غزمونه ورورولی غواړی

✿✿✿

راشیء سره یوشیء واړه ای دپښتون خوا ځلمو
ای د پښتنی ملك اوسیدونکو هرې خوا ځلمو
ودروی بیرغ صف او قطار کښی د ایشیا ځلمو
خپله پښتو و ښایيء د نیا ته خامخا ځلمو
ژوند به هله ژوند شی چه قائم پښتونستان شی
خپله خپلواکی مو د نړی په مخ اعلان شی

✡ ✡ ✡

قام به قام کښی هله شی حساب چه د خپلواك شی
پورته شیء له خاورو د ژوندون په کارچالاك شی
خپل اختیار یې خپل شی په هیواد کښی یې خپل ژواك شی
جوړ ملی وحدت کړی د پردو نه وطن پاك شی
د یو د استعمار څو سالار زیه په د نیا کښی وی
ژوند د سعادت د سپینو تورو په بریښنا کښی وی

[محمد بشیر لو دین

سور بیرغ

په دره کښې دخیبر دا لاله زار دی
انعکاس یا دشفق کړی انوار دی
په مجمر کښې دافق یا سور انګار دی
که د پیغلې ښکلی مخ باندی سینګار دی
دشهید که پر ګوګل باندې پرهار دی
نه! بیرغ د پښتنو دی چه استو ار دی
سره ګلان دی پښتانه ئې بلبلان دی
هم دی شمسی پښتانه ئې پتنګان دی
«دخوشحال» دامیند و نو سره ګلان دی
پاس تړلی لوی پښتون پرې خپل نشان دی
دنا ترسه میر ځمن زړه پرې افګار دی
په دره کښې د خیبر څه لاله زار دی!
سور بیرغ دی چه ځوانان ورته کړیږی
دځلمیانو په سرو وینو کښې رنګیږی
دبې وزلو تو دې اوښکې پرې څڅیږې
ځوانه کو نډه دشهید ورته ژړیږې
داسند دشهادت اود ایثار دی
په دره کښې دخیبر څه لاله زار دی!
دا بیرغ دشهیدانو خون بهاده
دیتیمو او تور سرو واویلا ده

رپیدل ئی د پښتون د قام بقاده
کوز یدل یې د پښتون د ملک فنا ده
په ساتنه کښې ئې ډیر ایثار پکار دی
په دره کښې دخیبر څه لاله زار دی !
داسند موو ړاندې کړدی د نیا ته
ایشیا اوا مریکې او ار وپاته
پرې به نږدو فطری حق موو بل چاته
اې غلیمه! ته خبر ئې له کسا ته
په کسات کښې پښتون قوم ډیر نامد اردی
دا خاصیت د پښتنو ښه معلومد ار دی
داسر مشق داتفا ق دی لوی پښتون ته
دانسخه ده دعلاج رنځ د بیلتو ن ته
دامهر شوې ده چیټۍ خوار اوزبون ته
دا اوده ده دغلیم سحر او افسون ته
جګ ساتل ئی تل باعث د افتخار دی
زه پښتون یم زما سر ور ځنی جار دی

موسی «محتاج» متی زی د پښتو نستان د جشن په مناسبت
له شلگر څخه

د پښتو نخوا بزغ

مېنه د پښتون یم لوړه څوکه دا ایشیا یمه
پښتو نه گوره ستا یمه! پښتو نه گوره ستا یمه!
نه شم پټېدلی زه خو ځلند ه رڼا یمه
پښتو نه گوره ستا یمه! پښتو نه گوره ستا یمه!
خوشی خاوره نه یمه سنگر د مېړنو یمه
بزغ کوم په زوره چه ناموس د پښتنو یمه
ځیر که خپل غوږونه کړې مدام په گړېدو یمه:
«پیدا که ښه طبیب شی زه د هر مرض دوا یمه»
پښتو نه گوره ستا یمه! پښتو نه گوره ستا یمه
ډکه ټوله خاوره ده زماله سیم او زر څخه
ومی پوښته قدر د یونان له سکندر څخه
هېر دډیلی تخت شو احمدشاه غوندی افسر څخه
بدل که پښتون نه وی زه لاهغه پښتو نخوا یمه
پښتو نه گوره ستا یمه! پښتو نه گوره ستا یمه!
پاتی که ویده شی پښتنو در ته طوفان به شم
(که) سپاری مې غلیم ته زه ځان نه سپارم دځان به شم
توئی که کړی او ښکی زه یم تری گلستان به شم
تا ته خندا شرم دی دازه چه په ژړا یمه
پښتو نه گوره ستا یمه! پښتو نه گوره ستا یمه!

جوش وهی په وینو کښې جذبې د قومیت ستاسو
ولې مو په منځ کښې دومره نشته دی وحدت ستاسو؟
باید چه ژر جوړشي د پښتون په نوم ملیت ستاسو
ورك درنه نفاق که شي جهان ته به مو ستایمه
پښتو نه ګوره ستایمه! پښتو نه ګوره ستایمه!
ګوره که پښتون په خپل وطن کښې نن آزاد نه شي
وروسته له څو ورځو به هیڅ نوم د پښتون یاد نه شي
تل به خوار و زار وی هم پخپل ژوندون به ښاد نه شي
خدایه! شوم ټوټه، ټوټه؛ په څه رنځ مبتلایمه؟
پښتو نه ګوره ستایمه! پښتو نه ګوره ستایمه
څوك که شي مین په خپلوا کی دپاچاخان غوندی
توره او قلم به ئې نصیب شي خوشحال خان غوندی
ځار به کړی ځانونه پښتانه ترې پټنګان غوندی
زه به ئې ناز واخلم خدایږ وزه هم باوفایمه
پښتو نه ګوره ستایمه! پښتو نه ګوره ستایمه
څو به دې محتاج ته دګدا کچکول نیولی وی
څو به د پښتو زړه د رقیب په لاس د اغلی وی
څو به هر بی درد ستاپه غریب، یتیم ښاغلی وی
مه ګڼه در وغ زما وینا زه ر ښتیا وایمه
پښتو نه ګوره ستایمه! پښتو نه ګوره ستایمه

شینوا ری دوست:

د پښتون غمه !

لکه په زړه کښې یوار مان چه تورو خاورو ته ځی
داغم زده ځو انی می هسې نیمه خوا پاتې شو ه
لکه سر ې او ښکی چه له ډیر ې مجبوری تو ئیږ ی
د اسی مې خپله ا ر ا د ه خپله ر ضا پا تې شو ه
لکه غو ټی چه نیمه شو ې ا و تو ئیږ ی پسې
داسی د ز ړه نه مې آ ر ا م خو لې نه خندا پاتې شو ه
لکه په ا و ر سو ی د ا غو نه چه تنها کې و ی لا
داسی نیم سوزه ز ند ګی مې ماجرا پاتې شوه
ر ښتیا چه شمه د محفل وم خو تنها و سومه
څه ئې لو ګی شوم څه ئې او ښکې په ژړا وسومه
د ز مانې ناخوالو یو ړم ستر ګو هېر کړم پسی
په شا ن د زړه د سوز او ساز د خا طر ې پاتې شوم
لکه د لو یې لا رې ګرد د کار وان پښو پسی تلم
خود بادو جفا پرې نه ښوم بې اسرې پاتې شوم
لکه پتنګ د شمې خو ا ته ر سېد لی نه و م
د زړه له سوزه شوم لو ګی سړې ایرې پاتی شوم
که په ژړا او په فر یا د د هر چا خو ا ته لا ړ م
خو هغه شان ته لو ند ګر پو ان او ستر ګې سرې پا تې شوم
د پښتو ن غمه ! ز ه د ې هېر کړم ته یاد یږ ې را ته

که زه د ناز د مېرمن ناز او کرشمې یا د ې کړم
ته په سر و او ښکو کونډې رنډې پښتنی راښیې
که زه د ښکلو په لیدو زړه ته آرام ور کوم
ته د پیزیبو په شرنګا کښې زولنې راښیی
که زه د نوی ژوند نوم واخلم د زړه سود پرې کوم
ته د پښتون د بدو ور ځو نمونې راښیې
خو چه سوز واخلم په زړونو کښې بیا سوز لټوم
ته د بې سوزه پښتنو سړې سینې راښیې
د پښتون غمه! تا د خلکو د سیالۍ وو ېستم
هم د سیالۍ هم دی د هرې خوشالۍ وو ېستم

واسعی:

د پښتو شعر او ادب خوږې خواوی

او خوندور اړخونه

- ۷ -

د ښاغلی داوی د شعر لومړی ابتکار دادی چه د (واړوی) پر قافیه تر اوسه بل چا غزل نه ده ویلی او د پښتو د شعر او شاعری په نړۍ کښی دغه قافیه منحصر به فرد ده هر څه دیوانونه یا انفرادی ټوټې چه ګورو پر دغه قافیه غزل یا قصیده یا رباعی یا بله کمه نوعه شعر نه پکښی وینو. دا غزله د «سهل ممتنع» له ډوله څخه ده یعنی دیوې خوا څخه ساده او اسانه او له بلی خوا څخه زړه وړونکی او خوندوره او د قوت او ابتکار څخه ډکه ده د غزلی هر بیت بلکه هره مصرع پر یوه پښتنی ادبی اصطلاح مشتمله معلومیږی چه اوس به ښاغلو لوستونکو ته بیت په بیت ور وړاندی شی په لومړی بیت کښی لومړۍ او دو همه مصرع دواړه دد وو سو چه او سپیڅلو پښتو اصطلاحاتو څخه جوړه شوی او دوې خوندورې محاورې په داسی تو ګه پکښی ځای شوی دی چه ساده او ابتدایی او باذوقه انتهائی پښتون دواړه یو شانته تر تاثیر لاندی راولی او دوجد او سرورژبی پر ټکوی دا ځکه چه دی په لومړی بیت کښی وایی:

که یو وارز موږ پر کلی واړوی دغم بار به می له ولی واړوې

(پر کلی اړول) په پښتنو کی لو محاوره او اصطلاح ده دوی وایی برائی موپر پلانی کلی یاد پلانی پر کلی یاپر کور اړولی وه یا ئن شپه به پر پلانی کلی اړوو د اړو لو څخه مقصد شپه کول دی نودا تعبیر پرخپل موقع او مورد هر پښتانه ته ډیر خوندوراو په زړه پوری تعبیر دی اود بلاغت اندازه یی باذوقه پښتانه ته ور معلومیدای سی چه څو نه پر موقع مستعمل سوی او کلام ته یی څه ارزښت او جذابیت هم نه دی ورکړی ؟

د پښتنو په شعر او ادب کی « د دوست او اشناد معشوقی او لیلی دمین او محبوب پر کلی اړول او شپه کول» دعشق اوعاشقی په مذهب یو لوی سعادت دی په زیاته بیاچه عاشق دخپل معشوق څخه دده دپر کلی اړول او کښته کیدل وغواړی نو که دااړول ورحاصل سی اومعشوق دعاشق پر کلی واړوی اوشپه یی پرده باندی وی داخوسعادت نه بلکه دعاشق د پاره سر پر مځکه سلطنت بلکه جنت دی !!!

په دو همه مصرع کی وایی « د غم بار به می له ولی واړوی » که څه هم په محاوره کی وایی « داوږو څخه می بار یا پیټی واوښت» داهغه وخت چه څوك دیو چا څخه یو تکلیف اوزحمت واخلی مگر په بیت کی چه داوږ وپرځای ولی راغلی دی کلام یی ډیر خوږ کړی او ادبی رنگ ښه ترا ډیر سوی دی مځکه چه پیټی تراوږه پر ولی چه داوږی قوی برخه اودولی پرهلوکی شتمل دی ښه اخیستل کیږی.

په دوهم بیت کی ښاغلی داوی وایی.

التفات اوتغافل غبرگی چړ پ دی چه ته ستر گی نازولی واړوی

التفات اوتغافل خودواړه یو ځای سره راوړل د تضاد صنعت دی چه دلته شاعر دهغه په راوړولو موفق سوی او کلام ته یی یو زیات ادبی

رنګ ورکړی دی مګر د پښتو خوندوره برخه یې داده چه د التفات او تغافل څخه په غبرګو چړو تعبیر سوی او هغه د واړه یی د عاشق دوژلو د پاره داسی فرض کړی دی لکه د یوه بې رحمه معشوق چه په هر لاس کی یوه یوه چاړه موجوده وی او د عاشق دوهلو په قصد انتظار کاږی مقصد دا چه د غبرګو چړو غبرګو غاښو غبرګو لاسو غبرګو پښو غبرګو ستر ګو محاوره په پښتو کی د دووچړو دووستر ګو دوو پښو په معنی مشهوره او یو عامه کنایه ده مثلا یو سړی له بله څخه یو شی غواړی هغه په جواب کی ورته وایی (پر غبرګو لیمو یا پر غبرګو ستر ګو) یعنی پر دواړو ستر ګو دغه رنګه پلانی په غبرګو ستر ګو پوند دی یعنی په دواړو ستر ګو یا د پلانی غبرګی پښی یا غبرګ لاسو نه مات سوه یا لدغه قسمه نور مثالونه.

دریم بیت چه وایی :

لیو نی دی کړم کو څیو خصو صا
چه تر غوږیی نا اودلی واړوې

پخپل وار ډیر جذاب اوزړه وړونکی دی ځکه چه د (لیو نی دی کړم) خطاب چه د معشوق عمومی قد اندام او ټوله وجود ته متوجه دی په ښکاره یوه ساده تعبیر معلومیږی مګر وروسته چه د نا اودلو کو څیو منظره مینځ ته راځی او بیا ترغوږ اړول کیږی کلام ته یو خاص خوند ورکوی او د پښتو ژبی یو خوږ او خوندور تعبیر پکښی ځای سوی دی.

په څلرم بیت کی توری ستر ګی | په ژړا سپینول علاوه د تضاد پر صنعت د پښتو یو عام تعبیر دی چه هر پښتون یی پیژنی او ښه ورسره اشنا دی او د قسمت کښلی یا د ازل نوشتې په پښتنو کی خدائی ارادی او الهی تقدیر څخه د کنایی او تعبیر په توګه ډیر مستعمل دی.

دپنځم بیت په دوهمه مصرع کې (دازل به لاویشتلی واړوی) سر تر پایه محاوره او دپښتو ژبې دفصاحت او بلاغت یوه ټوټه ده چه دا مصرع حتی جوړه سوی ده دازل دویشتلی څخه مقصد مصیبت دی چه د یوه انسان دپاره دقدرت له خوا اراده سوی وی او له قضاؤ قدره څخه په پښتو ژبه کښی دازل په ویشتلی تعبیر کیږی یعنی غشی یا مردك چه په ازل کی دیو چاد پاره کښل سوی او اراده سوی وی که خیرات او دعا دواړه سره ملهسی هم دګرزیدلو اواوښتلو امکان لری . د دغه موضوع څخه د بلخ مولوی مولانا جلال الدین په خپل مثنوی کی په دې سره تعبیر کړی دی:

اولیاء را قدرتی هست از اله
تیر بر جسته بګردانند زراه

په شپږم بیت کی شاعر بیخی سوچه محاوره یی خواږه ادب ته راکښته سوی او د بیت هر کلمه او جمله یی داولسی افادې او ادب یوه ښایسته اوزړه وړونکی تابلوده په دغه بیت کی دی وایی:

واعظ هلته به دی بولم له مستی څخه
دا ښیلی ښو هیدلی واړوی

په پښتو ژبه کی دایوه مروجه جمله ده چه وایی (هلته به دی نر بولم که دی داسی وکړه) نو شاعر هم دلته دغه محاوره را اخیستی او خو را پر موقع یی راوړی ده واعظ ته وایی:

هلته به دی په رشتیا واعظ یا میړه بولم که دی دا ښیلی او ښو هیدلی له مستی څخه واړول.

ښیلی د معلوم او په بدود مشهور دپاره تقریبا د مشهور بالفساد په معنی په پښتو کی مروج دی او ښو هیدلی د مجرم او عاصی فاسق او جانی

څخه کنایه ده او په محاوره کی د ښیلی توضیحیی غوندی تاکید دی او زیاتره اوقات دواړه یو ځای سره راځی .

په وروستی بیت کی هم شاعر دقوت او ادبی قدرت څخه کار اخیستی مخصوصاً د «داوی پیژنم دی» عبارت ډیر موزون او مطلوب راغلی دی ځکه چه په عمومی محاوره کی هم پر دغسی ځای باندی راځی مثلاً یو سړی بل یوه ته وایی (ښه دی پیژنم څه دځان ستاینه راته کوې) په بیت کی هم د (ښه) کلمه ورسره پرته ده او د کلام تقدیر داسی دی (داوې ښه دی پیژنم) دغزلی ډول اړول هم یو محاوروی ادبی کلام دی چه پرخپل موقع راغلی او خوندور واقع سوی دی.

تر دی ځایه پوری موږ دهغی وعدی سره سم چه د کابل مجلی په تیره ګڼه کی مو دښاغلو لوستونکو سره کړی وه د فاضل داوی پر غزل وږغیدو او خوږې خواوی او خوندور اړ خونه مو اخ کړه خدای دی و کی چه د دې مجلی مطالعین په محظوظ سوی او یو څو دقیقې یې په خوند تیری سوی وی.

(نور بیا)

بناغلی دولت محمد (لودین)

د جبو خلك

-۲-

کله چه چرش کابګی ته وخوت خپلې لور (هانا) ته یې ویل :
« همدلته د واسیل سره پاتې شیء »
واسیل ته یې وویل: « واسیله په دوی پام کوه ځکه هانا نجلی ده او (فید کا) یو وړوکی ما شوم دی »
دواسیل مور وویل «جنګونه سره ونه کړیء »
واسیل هیڅ ونه ویل کله چه بګی په ونو کښې له سترګو پناشوه پوه شو دلته بل هیڅ شی دومره بد نشته لکه د (هانا) سره یوازی پاتې کیدل.
دابه ډیر ښه وای چه کورته تللای وای ؛ نه دا چه د هانا سره پاتې وای. بیا فکر ته ورغله دغه لکه چه ماته د سزا راکول وی چه هانا راسره پاتې شوه.
هانا هیڅ نه ویل غلی او چپ ناسته وه . واسیل پوه شو چه هانا هم لکه چه خوشاله نه وی دا ورته بی معنی ښکاره شوه چه دلته د هانا سره چپ ناست اوسم ؛ لاړ ، چه خپل اس وګوری ، اس یې هماغسې د غوزونې سره ولاړ دی .
اس یې ایله کو - چرې ته یې بوت چه او به یې کړی په بیرته

راګرزیدو کښې کله چه هغه د ولو ځای ته ورسید ـ داور ته ښه ښکاره شوه چه همدلته وی ـ او هانا ته نژدې ور نه شی.

کله چه هانا دخپل ورور سره خبرې کولې واسیل ته دخپل مور دغه خبره په زړه شوه «جنګ سره ونه کړی ؟!»

له دې کبله داور ته ښه ښکاریده چه همدلته د خپلې بګۍ سره ودریږی او هغوی ته نژدې ور نه شی.

مګر فید کا په منډه ده ته ورغی.

«واسیا کا کا، هلته دا نه راځي.»

واسیل ور ته په بې پروا او بې مینې ډول وویل: «دخه د پاره؟»

«مونږ اور بلوو!»

واسیل ترڅه وخته پورې و دریدل بیا یې په یوشی ځان مشغول کړ، مقصد یې دا وچه هلك به ونه دریږی او بیر ته به لاړ شی خو هلك لاړ نه شو، هماغسې په تمه ولاړو.

واسیل ژر له بکس نه ډوډۍ وکښله او بیر ته یې بکس وتاړه، بیا یې په بیړه خپله کورتۍ واغوستله هلك ور ته کاته او دده کار و نو ته یې فکر و، نو یې ور ته ویل:

دا ته څه کوې، راځه مونږ اور لګیت پیدا کړی، اور بلوو!

هانا یوازې لګیاوه اور یې بلاوه، اور به کله بل شو او کله به بیر ته مړشو، هر څه خواری یې چه کوله اور ښې لمبې نه کولې او ښه نه لګیده.

واسیل ور ته ویل: «ته یې ما ته پریږده!»

واسیل دهغې څنګ کښې اور ته ګونډه ووهله هانا لږه وخوځیده او ځای یې ور ته خوشې کړ مګر ډیره لرې نه شوه. دوی دواړو واوږه په اوږه داور دلګولو کوښښ کاوه، پوکی به یې ور ته کاوه چه ولګیږی خو تر

اخیره پورې د دوی خواریو ښه نتیجه ور نه کړه د دې د وینښتانو یوه کوڅې دواسیل په مخ ولګیده، خو واسیل ځان هیڅ ونه خوځاوه لاس یې ور تیر کړ او ایسته یې کړه.

او رمړشو، هانا ودریده، دماشو بنهار هم ډیر شو.

واسیل دهغې دخوشحالۍ دپاره وویل: «مه خپه کیږه، زه ځم د هغو خلکو نه اور راوړم»

واسیل هلته ورغی سلام یې واچاوه.

دهغوی مشر ورته په ډیره مینه او مهربانۍ وویل: «ځوانه څه وایې؟»

«دلږ اور مرسته را سره وکړی...»

دغه مشر سړی زوی ورته وویل: «تاسو باید چه خپل اور ولړی!»

«ولی په اور خپه کیږې!»

«زه خپه کیږم او که نه، تاسې باید چه خپل ولړی! حکومت هم په دغو ورځو کښې تاسو دپاره کوښښ کوی چه هرشی در ته تیار کړی!..»

دهغې پلار (پیغپم) په ډیره مهربانۍ وویل: واخله ځوانه! دی در سره ټوکې کوی...»

«زه ټوکې نه کوم، رښتیا وایم دغه خبره په ور ځپانه کښې لیکل شوې ده:.»

(پیغپم) ورته په جګ اواز وویل: تا د چا نا اوریدلی دی؟»

«د (اوډوټیا) نه چه د ګوره عسکر بنځه ده.»

نورو کارګرو ور پورې وخندل «ګوره د خپل پلار سره څنګه زړه ورې خبرې کوی!»

پلار یې په اوږه یو ډب ور کړ. او ورته یې وویل «نور دې چیرته اوریدلی!»

«تاسو ته داسې ښکاری چه زه تاسو سره ټوکی کوم...»

«ډیر ژر به وګوری ، چه دغه مو کوټ به در ته آباد کړی.»

«نه یې منم!»

واسیل لګیدلی سکور واخیست په لاره کښې به یې کله په یوه لاس او کله په بل لاس کښې نیوه چه لاره ور باندې ووینی.

واسیل به یو او بل ځای کښې دریده سکور به یې پوکاوه چه مړ نه شی کله یې چه په منډو خپل ځای ته ځان ورساوه، هلته په ګډه په ډیره بیړه داور په لګولو لګیا شول.

هانا یو موټی وچه ګیارا واخیسته. واسیل ته یې چه ورکوله، لږه ورټیټه شوه، بیا یې یوه کوڅی دواسیل په مخ ولګیده، داوار ور باندې بده ونه لګیده، خوندیې ورکړ.

دوی دواړو په ګډه دغه ګیا لګوله او ددغه کار نه یې ډیر خونداخیسته.

کله چه اور ولګید، دغه خوشالی ورته له هرڅه زیاته خوشالی وه، په دې وخت کښې فید کا منډه کړه یوه غټه څانګه یې راوړه او په اور یې کښیښوده، هانا دغه څانګه ایسته وغور ځوله، او په خندا شوه، ویل یې «څومره ناپوه یې!»

دا یوه خاطره ده چه داور لګولو نه ددوې سره پاتې شوه، چه تر ډیرو کلونو پورې ددوی زړونه ور باندې خوشاله وو.

هانا په یو نژدی ډنډ کښې کچالان و مینځل په یو لوښی کښی یې واچول، غوښتل یې چه په اور یې ونیسی، مګر واسیل پری نه ښوده.

«ته صبر کوه، یو شی پیدا کړم چه په هغې یې په اور ونیسو:»

اخواد بخوایې وکاته چه څه پیدا کړی ـ هغه نژدې پر تو خمبو ته ورغی، دوه دوښاخی خمبې یې غوڅې کړی ـ هغه یې دلته په ځمکه ټک

وهلې او یو بل لرګی یې ور باندې کښېښود؛ اولو ښی یې پکښې ځوړند کړ واسیل وویل: «له پخوانه به داسې ښه وی.»

هانا هیڅ ونه ویل، چپ وه چه دغه چپوالی داسې معلومیده چه د هغې په موافقه دلالت کوی؛ چه همدغه وضیعت واسیل ته خوندوره هوسا بې وه. دوی دواړه مخامخ سره کښېناستل، دواړ وبو ته کاته چه کله به وبشیږی، یوه هم خبرې نه کولې په همدغه حال کښې دوی دواړه دیو بل په زړه سره پوه شول او په زړونو کښې یې سره پوره موافقه راغله بې له دې چه یو بل ته د زړونو حال څرګند کړی پوه شول باید څه وکړو. هانا به کچالان لړل او د کچالانو او بو ته به بې کاته او واسیل به ور پسې اورایښوده.

ترڅو پورې چه کچالان پخېده واسیل او فید کا څو وارې ځنګله ته لاړل چه وچ خس راوړی.

کله چه کچالان پاخه شول، هانا واسیل ته وویل، کښینه مړۍ وخوره، واسیل دمړۍ خوړلو نه انکار وکړ، چه ما دماښام ډوډۍ خوړلې ده.

هغې دیوې مهربانې کور بنې په توګه ورته وویل: «کله دې خوړلې ده، کښېنه، باید څه تاوده خواړه وخورې!..»

واسېل دهغې غوښتنه ومنله، نور یې څه ونه ویل، کښېناست، هانا لاړه نیمه ډوډۍ یې ورته مخی ته کښېښوده، څه بادرنګ یې له خپلې بګۍ نه راوړه او هغه یې هم په دسترخوان ورته کښېښودل. دوی دماښام په ډوډۍ سره کښېناستل، مګر یوه هم څه نه ویل چپ وو، هغه وخت چه واسیل، هغه غټ لرګی له اوره لرې کاوه، تندی یې ګونجې شو، دهانا پخوانۍ ناخوالې یې په زړه شوې غوښتل یې چه خپل کسات ځنی واخلی، مګر بېرته یې په زړه کښې وګرزېدل، زغم ښه شی دی، یو بل شی هم موجودؤ، یعنی او سنی شرایط او دهغه وخت شرایطو هم سره توپیر لاره.

ویدکا یوازینی نفر ؤ ، چه بې له خوراك نه یې نور هیڅ شی ته پام نه‌و، تودې تودې پټاټی او تازه تازه بادرنګ به یې را اخیسته او په‌خوله به یې منډل همداسبب ؤ، چه له ټولو نه یې مخکښی بس کړل.

دهغې پسې واسیل بس کړل ، او لاسو نه یې په‌خپل کمیس وچ کړل.

هانا ورته وویل : « خوره ، ولې دې بس کړل ، تا خو هیڅ ونه‌خواړه . »

«ماځان ښه‌موړ کړ .»

« زمونږ کچالانو خوند درنه‌کړ ؟ ...»

«داسې ښه‌خوندیې وکړ لکه ....»

دهغه د کچالانو خوند ته هیڅ پام نه‌ؤ، په‌فکر کښې یې نور وشیانو چکر واهه . په‌دې ډېر خوشال شو چه د مېړه په‌باره کښې رسمی خبرې بشپړ شوې . لږ وروسته پښېمانه شو . باید چه د پټاټو مېږه ستاینه کړی وای : ځکه د پټاټو ستاینه دهانا ستاینه ده ، په خپل ژوند کښې پس له‌دې باید د نجونو ډېر عزت وکړم ، داسې ونه کړم لکه تراوسه پورې مې چه یوازې دسړیو عزت کاوه .

واسیل ورځنې تشکر وکړ ؛ او خپله پوره خوښې یې ښکاره کړه .

«داشیان پرېږده !»

واسیل آسمان ته وکاته او ویې‌ویل : «داسې معلومېږی لکه سپین سبا چه‌وی ! »

قصدیې وکړ ، چه خپلې بګۍ ته لاړشی ، خو ګیدکا پرې نه‌ښود .

«کاکا مونږ سره پاتې شه !»

واسیل یوه شېبه په‌فکر ودرېد چه‌څه وکړی . هانا خپل دسمال په‌سر بېرته ټینګ کړ ، خوځه یې له خولې ونه‌ویستل ، په دې حال

کښې واسیل ورته یوغلچکی کاته وکړه .

«زه غواړم چه خپل آس ووینم.... »

هانا جواب ورکړ : «له دې ځایه یې هم لیدلای شی »

«پوره یې نه شم لیدلای . »

ده غوښتل چه لاړشی ، ځکه دوضعیت نه یې معلومیده، په دی حال کښې هانا ستر ګی ورواړولې ستر ګې یې دهغه دستر ګو کسوته مخامخ کړې اوویې ویل :

«زه وېرېږم .... »

«له څه شی ؟ »

«غله به راشی .... »

ددې په خبرو باندې یې زړه نرم شو ، او ورسره یې ومنل چه پاتې شی ، ویل یې ، پاتې به شم .

په بېړه اس ته ورغی ، د هغه ښکـیل یې وکوت ، خپل ګـوټ یې له ښکی نه راواخیست ، او بیرته داور ځای ته ورغی .

هانا ورته وویل : « واسیله ! ته به ما نه خپه یې چه تاپورې مې دوړې کړی دی ، مګر هغه زما ګناه نه وه ، یو بل نفرو ، چه زه یې لمسولم ، زه هم تېروتلم او ته مې وځوروله .»

«ښه ، داخبرې اوس پرېږده .... »

دوی غلی کښېناستل ، هانا دفید کا او ځان دپاره د خوب ځای تیار کړ .

داور سره نژدی ځملاسته یولاس یې په خپل ورورو ؛ او په بل لاس یې ماشی شړل .

واسیل لاناست و ، او اورته یې کاته .

دغه خبره ورته ډېره دخوشالۍ خبره وه چه هغې دده د سترګو اوويښتانو په باره کښې څه ورته وويل .

اوس داسې معلومېده چه هيڅ ورځنې خپه نه دی ، بلکه د هغې په يادېږي زړه خوشالی کوله .

ډېرې زړه کېده چه دلته پرېوزی ، مګر نه پوهېده چه څه وکړی ترڅو چه هغې ورته څه ويلی نه دی ، دهغې ترڅنګه هم نه شو ځملاستی .

فيدکا ورته وويل : «ته ولې ناست يې ؟ »

«ما ته خوب نه راځی .»

هانا ورته وويل : «ته پرېوزه خوب به درشی .»

واسيل خپل کوټ واخيست ځان يې برابراوه چه داور په هغه بله خواکښې ځملی . مګر فيدکا ورته وويل :

«دلته نژدې راشه»

واسيل ته دده په خبره په فکر کښې څه پيدا نه شول ، ځکه دهانا څخه وېرېده چه ... خو دوی ته نژدی شو .

په دغه شپه ترډېره پوری واسيل ته خوب نه ورته ، خپل سر يې پټ کړ چه دما شونه خلاص شی په نيم کښې ستر ګويې اور ته کاته ، اور مړشو ، خپلې بګۍ اوآس ته يې وکاته چه هلته ورسره نژدې دی . هری خواته چپه چپياوه ، هانا وېده وه دهغې خراری يې چه اوريده زړه يې ورته له ډېرې خوشالۍ باغ باغ کېده .

آخر په دغه بې خوبه پرېوتو باندې ډېر ستړی شو ، پاڅيد اخوا ديخوا يې وکاته چه سبادی ، که ګوری له هغې خوا (يېفيم) بنګاره شو ، چه ديخواته را روان دی .

يېفيم وويل : «ته څنګه وينې ناست يې ، ته داسې يې لکه زوړ کارغه

چه د دوی پېره داری کوی ، که دغه پیره داری نجلۍ ته ورسېده بیا به په خپل حال پوه شي .

واسیل نجلۍ ته وکاته ، که ګوری ویښه ده او د (یېفیم) خبرې یې اورېدلی دی ، د واسیل شونډې له ډېره قهره سړه ورپېدې .

یېفیم وخندل «پاڅېږیء له دې ځایه !»

«مه وېرېږیء زه دغې نجلۍ پسې نه یم راغلی ، د دې په شانې ډېرې دی» !

ها نا ورته په تونده لهجه وویل : «پرېږده چه نورې داسې ژولی خبرې ونه کړی . ته دچا په کار یې ؟ مونږ تا ته ضرورت نه لرو .

«ضرورت راته لری او که نه ، شړلی مې هم نه شي اوس به معلوم شي !»

ها نا ورته وویل : «ستا خبرې داسې راته ښکاری لکه واړه ماشي چه بڼېږی !»

یېفیم د دغې خبرې جواب پیدا نه کړ .

ها ناور باندی نوره هېڅ پرواونه کړه او واسیل ته یې مخه کړه او ویې ویل : «زه به سبا ناری ډېر ژر تاسو ته تیار کړم .»

«ښه !»

یېفیم بیر ته خپلو سړیو خوا ته وخوځید او په دی وخت کښې یې د ځانه سره وویل : «څه ژبه خدای دی ته ور کړې !»

(۲)

د (چرنش کا) د انګړ په مخکښې د ټول اوړی په تا وده لمر کښې د ګیلاس د د ورمې په شان نیا لګی وده کوله ، مګر د کارونی

دهیچا دې پام نه وچه دغه نیالګی چا کړلی او کله یې کړلی دی.

په اپریل کښې چه دغه نیالګی په شنو پاڼو سمسور شو هم دهیچا ورته نه پام کیده - ورو ورو دغه نیالګی وده کوله، بالاخره ستره ونه شوه، اوس هم هیچاورته پاملرنه نه لرله، پرته له بارانه چه پاڼې به یې ورته وللی او باد به ورسره لوبې کولې - خلکو خو ور باندې هیڅ پاملرنه نه کوله - ځکه چه خلك دومره وزګارنه وو چه تش یو وار ورته وګوری - نو پاملرنه به یې ور باندې څه رنګه کړې وای. دغه ورته یو بې معنی او بې میوې ونه ښکاریده.

هغه وخت چه میوه داره ونه شوه، دمیوې سرې سرې دانې چه پکښې ښکاره شوې خلکو ورته په ډیره اریانتیا کاته اود ټولو ستر ګی ورته وازې پاتې شوی - چه په تماشایې نه مړیدل. په همدغه اوړی کښې هانا هم دګیلاس دونې غوندې وغوړیده - پرون یوه جنګی اوژبه وره نجلۍ وه، هر چا به ځنې ځان ساته - نن چه موسم ته رسیدلې ده، داسې ښکلې ښکاری لکه هماغه د ګیلاس ښکلی ونه چه په میوه ډکه ده.

خلکو هانا وکتله - هر چا به چه وکتله زړه به یې ور باندې بایلود - په زړو نجنو کښې او ازه خپره شوه چه هانا اوس پوره پیغله ده، ښه موسم یې دی او دودولو ده په زیاتر وځایو کښې به د خلکو مجلسو نه دهانا د ښکلا په ستاینه خوندور او مالګین وو - دغو خبرو خلکو ته دهانا دمور یاد ور په یاد کړ - دهانا مور خو کاله پخوا مړه شوې وه. خلکو به ویل - دهانا نامور نبایسته ښځه وه

ځکه لور یې هم ښایسته ده.

ها نا کټ مټ دخپلې مور په شان ده - دها نا ونه، رنګ اوږې اوتندی کټ مټ دخپلې مور په شان دی.

رښتیا ها نا ډیر ښه اندام اوښکلی څیره درلوده، د بدنی ښکلا سره یې د ښه خوی ښکلا مله شوې وه چه نوره یې هم ښکلی او ښایسته کړی وه.

دپخوا په شان یې بې ځایه خندا، بې ځایه حرکتونه او بې ځایه خبرې نه کولې - هر کار یې په سنجش اوفکر سره روان و. د هانا دغه وضیعت خلك په په دی فکر کړه، چه هانا په (کارونی) کښې ډیره ازادانه ستره شوی ده، هرڅه یې په خپل فکر کړی دی په همدی توګه یې فکر ښه تربیه شو، له دې کبله اوس هر کار په پوره سنجش کولای شی.

هلکان به کله کله ځنې چورلیده، خو هر یو هلك به ځنې ویریده هر یو به ځنی لرې ګرزیده ځکه دهغې تیره ژبه د هر یوه په یادوه = همدارنګه دوی پوه شول - دغه ډیره ګرانه ده چه هانا خپل دروند خوی له لاسه ورکړی - دغه کار به هیڅ کله ونه شی - همدغه دروند خوی دی چه هانا دومره مغرور ه او بې پروا ګرزی.

واسیل هم دغه ازمایښت کړی نه و، چه دده نزدیکت به ور باندې څه تاثیر وکړی مګر په سر کښې یی پر ته له ها نا څخه بله سودا نه وه.

ددوی د کورونوورونه سره مخامخ و، مالونه به یې یو ځای څړ ته بوول او یو ځای به یې سره پوول - په دغه توګه ده ډیر کلونه

تیر کړی وو. خو هانا ته یې هیڅ پام شوی نه و چه څنګه ده.

دغه ما زیګر چه په چمن کښې یې هانا ته پام شو، په فکر کښې یې داسې وګرزید لکه چه دټولې دنیا بڼه ښایسته شوی وی ټوله دنیا ورته یوه معجزه غوندې ښکاره شوه دغه ورته یو ازې هانا وه چه هر څه یې له سترګو ښایسته ښکاریده.

دهغې لاسونو، دهغې ګوتو او دهغې نغښتې وجود تر ډیرو شپو پورې واسیل خوشاله ساته کله به چه هانا ورته نژدی شوه، بې اختیاره به یې په سینه کښې خوشالی په ټوپونو شوه.

نور په واسیل باندې نه شپه سبا کېده او نه ورځ ور باندې بېګاه کېده. دشپې به نا ست و، داسمان ستور وته به یې کاته او په زړه کښې به دهانا سره په خبرو لګیاو، د ورځې به یې هرې خواته سترګې اړولې که چېرته یې هانا له سترګو شې، ترمازیګره پوری نه یې سترګې هرې خواته اړولې چه هانا وګورې.

دغه وختونه دمینې او معاشقې کولو وختونه نه و، ځکه داګست میاشت وه، خلک په هره خوا کښې په کارو لګیاو هیڅ ځای له خلکو نه خالی نه و.

دغه مازیګر چه ټول خلک په کارو ستړی ستومان شول او کور وته روان شول - مازیګر هم په اخیر شو، مګر واسیل هماغسې ولاړ دی، (چرنش کا) دسابو ځمکې هغه ځای ته ګوری چه هلته یې هانا کتلې وه، پس له دې، په نور شپو کښې به دوی همدغلته هره شپه سره ولاړ وو.

واسیل چه کور ته ورسېد - دماښام په ډوډۍ یې هم ځان ښه موړ نه کړ یو بادرنګ، یې چه له مېزه واخیست ټول یې ونه خوړ مور یې ورته دمولۍ خوړ لوست وکړ، مګر له هغې څخه یې هم انکار وکړ. ویل یې:

«نن جوړ نه یم، له ډېرې ستومانتیا له لاسه مې ټول ځان خوږیږی.
سبا ته یې هم کار ته زړه نه کېده چه لاړ شی.
څه وخت چه واسیل ور بېرته کړ، موریې ور باندې پوه شوه چه زوی باندې څه شوی دی.
دا چه واسیل ور ته د ډېر کار له لاسه فریاد وکړ، موریې ور ته وویل:
«زویه تر ډېره پورې کار مه کوه.»
دغه خبره یې وکړه او یو سوړ اسویلی یې له خولې وکیښ، ځکه دې هیڅکله د خپل پیاوړی زوی څخه دا آرزو نه لرله چه ووایی «ستړی یم!»
واسیل، له ډېر ډېر څخه کښته شو، لاندې یوه شېبه په فکر ودرېد چه په کومه لار لاړ شی.
په کوڅه کښې لاړ شم او که د سابو له باغه راتاوشم.
د باغ څخه راتاوېدل ور ته ښه ښکاره شول، ځکه په دغه خوا د چاتګ وراتګ نشته، په بېړه یې د ګلابو بوټی ته ځان ورساوه، هانا هم ده ته په کټارو کښې په انتظار ولاړه ده. واسیل یې چه ولید غږ یې کړ.
«هله، ژر راځه!»
واسیل وویل: «دغه دی درغلم!»
«څوک به مو ووینی، اوس به چرګان آذانونه وکړی.»
«زه هم مجبوریم چه لاړ شم او اس ور شو ته بوځم.»
واسیل پوه شو چه د هغې وینا حقیقت ده او زما هسې یوه بهانه ده که په دې خبره راڅخه خپه شوه دا به زما ملامتیاوی.
په بل وار چه دواړه سره یو ځای شول. له کټارونه لږ وړاندی

ودرېدل چه څوك يې ونه ګوري. که څه هم دواړه سره ډېر نژدې ولاړ وو، مګر دوی داسې خيال کاوه چه يوله بله بېخي لرې دی، ځکه دواړه چپ اوغلی ولاړ وو؛ اوهيڅ خبرې يې سره نه کولې.

پرته دسپی له غپا چه له لرې يې اورېده او دګلاپ دبوټی نری نری غژهار چه دباد په ښورېدو به يې کاوه، نور يې هيڅ نه اورېده.

دکلی په هغه بله خوا يوه هلك سندری ويل شروع کړل، لږ وروسته سندرې غلې شوې، په دې وخت کښې ديوی نجلۍ چغې اوفريادونه شول، لکه چه کوم شوخ هلك ځورولې وه.

په دې وخت کښې هانا وويل: «زه داسې خيال کوم، دالکه چه (اليونا زايچی کووا) وی»

«ښايی «اليونا» وی...»

«هغه ډېره فريادۍ ده.... دهروار فريادنه يې داسې معلومېږی لکه دمرګ وېره چه ورباندې ورغلی وی»

بيايې واسيل ته په داسې توګه لکه چه رټی يې وويل:

«ستا خو هغه خوښه ده!»

«زما؟ زه هغې ته دومره ضرورت لرم لکه په اوړی کښې واورې ته!»

«ته همداسی معلومېږی.»

«زه تراوسه پورې دهغې سره هيڅ ناست نه يم!»

«رښتيا وايې!»

«ته، زما په زړه هيڅ نه پوهېږی!»

واسيل چه دغه خبره وکړه پوه شو، چه (هانا) لږه نرمه شوه، اوپه څېره کښې يې خوشالی ښکاره شوه. بيايې دهغې لاس ونيوه، سره له دې چه لږ ځنی وېرېده هم. مګر (هانا) نه ځان ځنې کش کړ

او نه یې واسیا پوری واهه ، په دې باندې واسیل څومره خوشاله شو ، چه نور له ډېرې خوشالۍ په جامو کښې نه ځایېده ، دغه خوشالۍ ورته داسې ښکارېده، چه یوازې دده په سینه کښې په ټوپونو نه ده . ټول باغ بلکه ټول کلی له خوشالۍ ډک دی . هرشی ورته خوشاله اومهربانه معلومېده . دګلاب بوټی ورته خوشاله ښکارېده، دختکو ، بادرنګو او نورو ټولو شیانو بوټی چه په باغ کښې وو ، ډېر خوشاله او تازه برېښېدل .

دوی دواړه په مینه کښې سره ډوب شول .

خود به په مینه کښې سره ډوبېدل ، چه د یوې پېغلې دمینې لاس یوه ځلمی مین په لاس کښې نیولی و ، د خبرونه یې داسې معلومېدل لکه چه دتل له پاره سره د ملګرتیا تړون وکړی .

واسیل وویل : «داته څه رنګه لاسونه لری ....»

«ته څه رنګه غواړی ؟ »

«واړه اوقوی ....»

هانا ورته وړویل : زیږه اوبې باکه ....»

« نه . »

« پاسته »

«سپرلۍ پاسته لاسونه لری .»

« خلك وایی چه دښاری نجونو لاسونه پاسته دی.»

«خودبه پاسته وی چه مونږ غوندې سخت کارونه نه کوی...»

بیا دواړه چوپ شول ، خودا وارې خوشاله وو ، دهانا لاس هماغسې واسیل نیولی و، زوریې کړ اوبه خپلې سینې پورې یې ونیو بیایې وویل : «ته ډېر سخت خوی لرې ، خلك درڅخه ویریږی..»

هانا ورته په خندا وويل « ته راڅخه وېرېږي؟»

هانا بيا وويل : «کوم کار چه زما له خوښې نه چپ وي ، په هغې قار راځي ځکه راڅخه (فيدکا) ويريږي .»

«زه نه ، زه نه وېريږم له تا نه »

«هغه زړور نه دي!»

«زه نه له تا نه او نه ستا له ژبې نه ... هيڅ پروادې نه راځي ...»

«ته زړوريې ! »

دغه خبرې همداسې ترڅه وخته پورې اوږدې شوي، دغو خبرو واسيل ته يوه عجيبه آرزو پيدا کړه ، غوښتل يې چه هانا مچې کړي. مګر په زړه کښې ورڅخه لږ وو ېرېد- مچې اخستل ورته ډېر سخت کار ښکاره شو په فکر کښې ډوب شو، دځانه سره يې ويل ،خلکو ته مچې اخستل ډېر اسانه دي او ما ته په دنيا کښې هيڅ شي ډېر سخت نه ښکاري لکه مچې اخستل .

په دې وخت کښې ورته هانا وويل: «ګوتې مې مه کښېمنډه!»

«زه خوېې نه.....»

« اوه، نه، ته يې نه. ددغه زورهم ،زه طاقت نه لرم.....،

واسيل دهغې لاس پرېښود په فکر شو، ما خوېې له ډېرې مېنې ګوتې لږې کښېکاږلې ،او په دې باندې هم داخپه شوه- لکه چه په لاس نيولو خپه کيږې بايد چه لاس يې و نه نيسم. په فکر کښې ډوب لاړ او هيڅ يې له خولې نه ويستل ،هانا ته يې هيڅ نه کاته ،چه هغه ورته په مينه ګوري او که نه

هانا په ډېره خوشالۍ دغه خبره شروع کړه: « زه چه تا ته وګورم زه فکر کوم .....»

«څه شي ؟»

«ملګریه، ته څنګه بختور یې! . . تا غو ندې دډېرو خلکو زړه غواړی!»

واسېل په داسې حال کښې و، چه بېخې ځنې ناامېده شی، خو دهغې دغې خبرې بېرته امېد ورته پېدا کړ، چه وېې وېل: «څه ووایه کنه!

واسېل فکر وکړ باېد څه ووایم- اول یې غو ښتل چه دخپلې چپتیا بیان ورته وکړی، مګر بیا یې فکر بلې خواته واوښت، باېد چه نور څه ووایم.

واسیل وویل:

«د (کورچ) داس په سوم کښې میخ تللی دی . . . ګوډ دی، قدم نه شی اخیستی، هغه ډاکتر پسې لاړ.»

«هو، ماولید، هلته لکه کارغه ناست ؤ، اس به یې بیرته ښه شی؟»

«خلك وایی، ښه کیږی، خو کورچ ورته ژاړی، چه روغ به نه شی.»

«ستا، لکه چه د (کورچ) سره ورانه ده.»

واسیل وویل «نه، ولې می ورسره ورانه ده.»

واسیل بیا چپ شو، لږ وروسته یې بېرته په خبرو کولو پیل وکړ.

«خلك وایی، چه دوی سره ځمکه ویشی.»

«هو، ماهم همداسې اورېدلی دی، ځکه نن په ورشو کښې دښځې سره ګړېدې.»

دوې دواړو په خپلو کښې سره همداسې خبرې کولې، چه دچرګ اذان یې واورېد، هانا چه دجبې دپاسه هسك ته وکاته، پوه شوه چه سپین سبادی، ژر دواسیل نه وړاندې شوه او خپل ټیکری یې په سر ټینګ کړ.

«رڼا مخ په‌زیاتېدو ده ، مونږ بایدچه لاړ شو ....»

«ته ، خولږه ودرېږه ....»

«نه ، زما (میره) به‌په وېښیدو وی ....»

واسیل ځنې لاسونه تاوکړل چه خدای په‌امانی ورسره وکړی ؛ اوپه ډېره ناامیدۍ‌یې فکروکړ : همدا کاته‌شو ؛ اوکه بیا به‌هم‌سره وګورو ، په‌همدې حال کښې‌یې سترګی ورنزدې کړې اویو بل یې محې کړل .

په‌دې ترڅ کښې واسیل وپوهېد چه‌ګناه یې وکړه ، نوله‌شرمه‌یې سرکښته واچاوه ؛ هانا هم‌وشرمېده اوسریې ټیټ واچاوه .

هانا وویل : «واسیله ، ته‌راباندې مین‌یې .»

«ولې ، البته ....»

«او زه .....»

هانا همداسې ځوړند سرولاړه وه ، بیایې دغه وضعیت پرېښود ، سترګې‌یې پورته کړې که‌ګوری واسیل‌ورته ولاړدی او په‌مینه مینه ورته‌سترګې غړوی .

هانا ورنژدې شوه ، لاسونه‌یې ځنې‌تاوکړل ؛ خپلې سینې پورې‌یې ټینګ‌ونیو ؛ اوخپلې شوندې‌یې دواسیل په‌مخ کښېښودې‌اوزوریې کړې .

په ورپسې ورځو کښې دواسیل ژوند په‌بل شان شو ، نور ټول فکرونه اوکارونه ځنې پاتې شول .

په‌ورپسې کلونو کښې که‌به کومه ورځ په‌هماغه لار پېښ شو ، پخوانۍ خوږې خاطرې به یې ورپه زړه شوې ، دغو ځایو کښې ځای په‌ځای ناولې اوبه ډنډ ولاړې وې ، بوی ناکه جبه‌وه په‌اوبو کښې اوداوبو په‌غاړو به‌لوی لوی واښه ولاړ وو .

که‌څوك به‌دجبې یاکوم ډنډ په‌غاړه تېرېده ، بیخی ډېروچونګښو به‌یې په‌مخې کښې ټوپونه‌وهل . ددغو چونګوښو (کاغ کوغ) ټوله

جبه نیولې وه دشپې به یې هم داسې نارې وهلې لکه چه موظفی شوی وی .

د (میاشو) له لاسه خلك دومره تنګ شوی وو، چه هیڅ خواته یې دتېښتې لار نه موندې ، مازیګر مهال به د (کرینی) کوڅې ، میدانونه، باغونه اودسابو ځمکې له میاشو څخه ډکې وې . میاشی به چه ستر شول ، په هر ژوندی شی باندې ، به یې غوټه کوله او هیڅ شی ځنې نه پاتې کېده ، خلکو به خپل کورونه پرېښودل ، دشپې به یې دسابو په پټیو کښې لاندې انګړ تاکونه یانور لاندې خس بلول ، لوګی به یې جوړاوه چه له میاشونه ځانونه وساتی ، ځانونه به یې لوګی ته نژدې کول ؛ اوخبرې به یې سره کولې ، دوی پرته له دې چه ماشونه ځانونه وساتی بل مقصدیې په ناسته اوخبرو کښې نه لاره . یو ماسخوتن چه خلك له لوګی نه ډك اورته د میاشو له لاسه ناست وو ، اور ورو ورو مخ په مړ کېدو شو، خلك هم په خوځېدوشول ، چه خپلو خپلو کوروته لاړشی ، ټول کورونو ته لاړل ، هیڅوك پاتې نه شول ، یوازې واسیل او هانا دکټارو سره ولاړ دی ، دمینی خوږه دنیایې جوړه کړې ده ، نه ماشی پېژنی او نه یې نورې دنیا اوچاته پام دی .

جبه له دوی څخه لرې نه وه ، د (ولو) ګڼ ځنګل له سلو قدمونه زیات دهانا له باغه لرې نه و، په دغه ځنګله کښې ددغه کلی یوه ډله کوچنیان لوبېدل غالمغالې یې جوړ کړی ؤ، داسې معلومېدل لکه چه په دغه کلی کښې پرته له دغې لوبې بله ښه لوبه نه وه ، په هلکانو کښې یوه هلك دمار د تېرېدو لیکه پرځمکه وکتله ، د کوچنیانو غالمغال نورهم ډېرشو ، ماریې چه وکوت په هغو کوتکو چه دوی سره وو ، ماریې وربانديې وواژه . بیایې منجرته راوکیښ ټول ځنې تاو وو سات تیری یې وربانديې کوله .

(نور بیا)

پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
د پښتو ټولنې د رئیس
ټیلفون نمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې د ټیلفون نمبر ۲۱۷۱۶

د اشتراک بیه

(په افغانی)

په کابل کښې	۴۰
د هواد په نورو برخو کښې	۴۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :	
۱- کابل	۲۰
۲- اطراف	۲۳
د باندې ملکو کښې :	۵ امریکایی ډالر
د یوې کښې بیه :	۴

د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کیږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب نمبر په افغانستان بانک
او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۱۱۸۱

د اشتراک بیه په اداره کښې هم اخیستل کیږي

(۵۳۹)

پرله پسې ګڼه

(٦)

دولتی مطبعه

کابل

Monthly Journal Of The
Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on Literature
Philosophy, Philology, Sociology, Art and re
lated fields

President of the Academy Pohand Reshteen
Editor: M. Sidiq Rohi
Co-editor M. Moman Patwal
Address Pashto Academy
Kabul, Afghanistan